Mach 21, 1957

١٣٣٤

Copy 1957
2 AUG 9

پرله‌پسی گنه (٤٢٩)

نوی کال

مونږ ډېر خوشحالېږو چه له زاړه کوره نوی کاله ته اوله زاړه کال نه نوی کال ته لاړ شو.

مونږ نوی ژوند له زاړه ژوند نه ښه ګڼو اوله زړولو ښونه مونوی لوښی خوښ دی.

زمان او مکان هم دوه ظرفه دی چه مونږ پکښی اوسو او هر وخت ئې نویتوب غواړو.

مونږ په کال او کاله کښی ژوند کوو اودژوند په ټولو خواؤ کښی تجدد غواړو.

مونږ هغه شعر ته ډېر ښه وایو چه نوی مضمون ولری او ابتکار پکښی وی.

دازمونږ ډېرزوړ عادت دی چه ابتذال مونه دی خوښ او په هرحال کښی ابتکار خوښوو.

له یوه زاړه سره هم دنوی واده هوس موجود وی او داسی ډېر پېښېږی چه سپین زیری سړی په نوی پیغله نکاح وتړی.

دغه دتجدد او نویتوب هوس چه هرڅوك ئی په یوه یا بله خوا کښی غواړی ددنیا د تحول او تطور له مزاج سره پوره موافقت لری اودترقی راز پکښی پټ دی.

زه نه وایم چه هر نوی شی له زاړه نه ښه دی ځکه چه دلغمان زړې وریجی له نوو نه ډېری ښی دی او ددواړو په قیمت کښی ښکاره تفاوت موجود دی.

همدارنګه زه خپله زړه عقیده هیڅکله په نوی نه بدلوم اودرحمان بابا او خوشحال خټك زاړه اشعار می له نوو نه خوښ دی مګر زما خوښه دزمانی دتغیر او تحول مخه نشی نیولی. زه وینم چه دنوی کال زورور بارانونه زاړه دیوالونه نړوی او خلق مجبور دی چه نوی دیوالونه جګ کړی. خوسره له دې چه عصر اوزمانه دتجدد خوا ته روانه ده بیاهم زاړه پساریان هماغه زړې جوشاندی خلقوته ورکوی اوزړې ټوټکې لانه دی ورکې نو ګوروبه چه نوی کال به له ځان سره څه نوی شیان راوړی او څه به نوی کړی. یا ددنیا زوړ استعماری سیاست به په نوی کال کښی بیخی له منځه ولاړ شی او که به پخپله زیره نوی رنګ پوری کړی او نوی ډولی به کورته راوړی یا به دغه زړه ناوې په نوی فیشن او سینګار ځانته نوی یاران پیدا کړی او ډېر ظاهر بینان به په ځان وغولوی.

«الفت»

(۲٦ کال) (۲٤) گڼه

کابل

پنځلس ورځنی مصوره

اجتماعی ، ادبی ، او تاریخی مجله

دامتیاز خاوند: پښتو ټولنه

دپښتو ټولنی مشر: گل پاچا «الفت»

مسئول مدیر: م،د،«ژواك»

پته: دمحمد جانخان واټ دپخوانی لیك او اصول دښوونځی تر څنګه

دتیلفون لمبر (. . .)

د ۱۳۳۶ ش کال د حمل لومړۍ ورځ
د ۱۳۷۶ ش ق د شعبان ۱۹ ورځ
د ۱۹۵۷ ع کال د مارچ ۲۱ ورځ

ددې ګڼې لیکوال:	په دې ګڼه کښې مضامین:
الفت	نوی کال
ژواك	پسرلی شو
ښاغلی بینوا	پښتو شاهنامه
« رحیمی	دغرب تمدن
« واله	مینه نه اسمانی ده...
« لونګین	وی دی
« پسرلی	وروستۍ مینه
« خواخوږی	پسرلی دی
« محمدحسن سابې	کال چه نوی شی
« ثابت	دفیلادلفیا...
« سعیدافغانی	دانسان مرفه حیات
« ازهر	چوپه چوپتیا
« حبیب	مرور او پخلا
پیغله فوزیه	دسهار نغمه
ښاغلی واسعې	پسرلی ته....
ښاغلی سیلاب	په غلا کتل
« سیفی	دخان عبدالصمدخان...
« منګل	خوشالی

په دې ګڼه کښې تاسو د ښاغلی نیکولای د وورانکوف روسی د پښتو لیکل شوی خط هم لیدلای شیء چه نوموړی ښاغلی د پښتو ټولنی په نامه رالیږلی او مونږ عین خط زنګوګراف کړی دی

کتاب پښتو نثرونه د محمدبن ژواك تدوین

عکسونه: د تون سره (۸) پاڼی — د پشتۍ منظره د هیواد جنوبی برخه ښئی

2006204653

پسر لی شو

هر طرف ته نو بهار دی غوریدلی
سترګی وخوره چه به دا ننداره نه کا
خوشحال

بلبلان پسی ناری وهی رحمانه !
د بهار ګلونه شوی دی که نه دی؟
رحمان بابا

پسرلی شو او هغه پسرلی چه دراتلو دپاره ئې د مضمون په غوښتلو ستړی شوم ځکه هرچا ته چه ووایم مضمون را کړه دی په جواب کښې راته وائی :

«دا موضوع څه شانتی زړه ښکاری» په داسی حال کښې چه. که ورته وایم «د پسرلی لومړۍ روځ د کال او نوی کال لومړۍ روځ نه ده؟» یا د همدې روځی دپاره مونږ تولو اقلا پنځه یا شپږ میاشتی انتظار نه دی ایستلی ؟ په همدې شان دا روځ هغه روځ نه ده چه د نیلیو بې برګ او بې سازه حال بدل او تک شین شی؟

که دا ټول حالات او تغیرات د بې التفاتۍ په نظر هم وګورو نو دوړو بچیو هغه هوسونه چه په همدې موسم کښې د غرونو او دښتونو د ګرځېدلو او هره خوا منډو وهلو په اثر و سر ته رسیږی دا حال د یو څو لیکو په لیکلو نه ارزی؟

یا دا چه د شاعر، نقاش او رسام هغه د طبیعی مناظرو خوښوونکې تنده چه په همدې موسم کښې د د طبیعت په ښکلا ماتیږی دا حال دلږ یا ډېر لیکلو قیمت نه شی پیدا کولای؟

او که ئې پیدا کولای شی نوولی څوک دی موضوع ګانو ته په دومری بې التفاتۍ ګوری ما ته خو د همدغو سوالو د ځواب څه تلوسه پیدا شوی ده زه دا ځواب دلیکوالو او هغو لیکوالو څخه غواړم چه زما د مضمون غوښتنی ته ئې منفی ځواب را کړی دی او د همدې ډول لیکوالو څخه دا پوښتنه هم کوم چه ژوند یوازی دوریجو او غوښو پیدا کولو ته ویل کیږی که بله معنی هم لری ؟

ژوند یعنی تنها ښه دریشۍ اغوستل او د ریشۍ دپاره د پیسو تهیه کول دی؟

ژوند یعنی د نش عزت دپاره هاند او زیارا یستل دی ؟

په همدی شان ځمکه پیدا کول. ماڼۍ جوړول او..... ته ژوند ویل کیږی.؟

او دا ټول بیا د پسرلی د ښې هوا خوشګواره موسم څخه مستغنی کېدلای شی؟

ایا ژوند سره له د غوشیانو پیدا کولو د یوی ګړۍ ښې هوا ته ګرزېدلو او د مرغانو رنګارنګ آوازونو اورېدلو د سپینی سپوږمۍ یو ساعت ننداره کولو ته نه شی ویل کېدلای؟

یا دا چه ژوند و همدغه سرګردانه او ستړی روځی ته-

وائي چه هرا نسان پرې ستړی
اوستومانه دی؟

که دژوند معنی یوازی همدغه
وی زما په خیال چه هیڅوك به ئې
قبول نه کړی او داخبره زه محض
دیوې اړی په حیث نه کوم
بلکه یوحقیقت ئې بولم .

زه وایم چه د پیسو پیدا کول
دامعنی لری چه یوار کار
وکړه او بیا تفریح

یووارڅه وخوره او بیائې دهضم
کولوزیارو باسه او په یوه کړی
گښت وښې هوا نه یادا چه
دژوند هره هره پرده په خیل خپل
حال کښې وروزه او ترقی
ورکړه چه ددې جملې معنی
داکیدلای شی چه دراغ سره
باغ ولره او دقال سره حال
دکم سره کیف ولره او دکیف
سره کم نو په داسی حال کښې
دژوند معنی داکیدلای شی چه
دفلسفې مضمون سره سم په یوه
اخبار کښې داډول مضمون هم
وی چه دانسان جذبات

ور مهیج کړی او احساسات په لرزه راولی یعنی که دا بیت اوری:

زمانه که ده په وارخو زورته نه ده — لاس ئې واچوه گریوان ته وار پیدا کړه
تصادم اوضرب چه نه وی آواز نشته — وخت له کاره پیدا کیږی کار پیدا کړه

نو دهمدی بیت نه وروسته دابیت هم واوری: (حمزه)

وچ په وچه لمونځ کله کېدای شی دځوانۍ په لمن
راشه چه لمدې کړو په شرابو د تو بو لمنی

(حمزه)

اوس نوناسی کولای شیء چه
د همدې دوو ډولو شعرو نو دوه
رازه خوندونه و گوری ءاوځانته
دامعلومه کړیء چه دژوند راز
څرنگه او په کومو حالاتو
کښې پټ دی یعنی هلته چه
ژوند تورتم تصور کېدلای شی
نو دحیات او به هم پټی دی او په
کوم ځای کښې چه د اضطراب
تلوسه ښکاری هلته د هوس
دپاره هم زړونه تو پونه وهلای شی
هو! زه دابېشکه منلای شم
چه دژوند معنی یوازی تفریح
طبع کېدلای نه شي بلکه تهذیب
طبع هم ورسره شته خو دا چه
ژوند دچکش دتك تك تر څرو
لاندی تصوروی او دزړه طپش ته په*

* کوم قیمت نه وی قایله ودې
ډول فکرو نو ته باید دلو یه خدایه
بښنه وغواړو زه خو وایم
چه دراز سره نیاز او دنیاز سره
راز دژوند مکمله معنی کیدای
شی نه دا چه رازوی او نیاز نه..
نو په داسی حال کښې
مونږ یوه موضوع نه مطلق نوی
گڼلای شو او محض زړه
او پسرلی هم په همدې شان باید
وباله شی او موضوع ئې هم
په همدی شان - نورا شی چه
دپسرلی دپاره یو څو سندری
ووایو او په پسرلی کښې
خوخزان هم دزړه نه ونه باسو
او دخزان د چپاو په زغر دهم
زړونه پوه کړو. داوه زما یوه
وړوکی ارزو دلیکوالو څخه

ژواك

پښتو شاهنامه

ښاغلی بینوا

دا پښتو شاهنامه دفردوسی دشاهنامې ترجمه نه ده او نه په هغه دوره پوری اړه لری. دا شاهنامه داعلیحضرت احمدشاه بابا په فرمان د «حافظ» نامی شاعر له خوا په (۱۱۷۶ھ) کال کښې په پښتو نظم شوې ده.

حافظ دمرکزی پښتونستان د «مرغز» اوسېدونکی او په نسب عرب و، ده په دی شاهنامه کښې د احمدشاه بابا دوخت تاریخی پیښی (دجلوس له وخته بیا دپانی پت ترجګړی پورې) راوړی دی.

بو کال پخوا چه زه په ډهلی کښې د افغانستان دسفارت غړی وم، نو ما د لندن څخه دبرتش موزیم دقلمی کتابونو فهرست راوغوښت، پنځه ټوکه ماته راورسیده چه یو ټوک ئې بوازی دمراتی، ګجراتی، بنګالی، آسامی، اویا، پښتو او سندهی ژبو دقلمی کتابو فهرست وه.

دپښتو په برخه کښې ئې ډېرښه نادر کتابونه درلودل، چه په هغو کښې بو کتاب همدا دشاهنامې کتاب و،

ما دهغه موزیم دفترته ولیکل چه ددی کتاب عکس ماته راولېږی، یوه میاشت وروسته دټول کتاب عکس راورسید.

دا کتاب (۲٤۸) مخونه لری چه په هرمخ کښې ئې په اوسط ډول (۱۵) بیتونه راغلی دی چه ټول بیتونه ئې تخمیناً (۳۷۲۰) بیتونه رسېږی.

حافظ ددې شاهنامې دنظم کولو په باب کښې داسی وایی:

چه فرمان دشهریار و — په زیبا ښکلی گفتار و
چه «حافظ» دی شاهنامه کا — په جهان دی دا نامه کا
شاهنامه دی کار نگینه — جوړ زیبا در ثمینه
پکی حال دی دجهان وی — ښه گنجونه دی عیان وی
ښه مذکور دی کا دجنګ — چه پرې صاف شی دزړه زنګ
د پادشاه می حال بیان کا — چه ئې سیر د جهان کا
بهادر دی شیر افګن — تیغ ئې تېر شه تر د کن

د کتاب په پای کښې وایی:

د پادشاه و، دا فرمان — په زبان و، درفشان
شاهنامه دی «حافظ» تم کا — گویا روغ دی جام جم کا

د پادشاه په نام شوه تم گویا دا شوه جام جم
په تنظیم چه دا خبری بې بها دی مرغلری

بل ځای وایی چه ده ته «نظامی گنجوی» په خوب کښې راغی او ده ته ئې وویل چه داشاهنامه منظومه کړی او خپل داخوب داسی څرگندوی :

په گنجه کښې نظامی و اقالیمو کښې نامی و
په شپه راغی په سحر په کلام شهد و شکر
ښه ئې و کا دا گفتار چه «حافظ» دی کا اشعار
ښه کلام ئې دی ابدار شه نامه دی کا تیار
په اجازت د نظامی نه خسرو و نه جامی
شاهنامه کړه ما تیاره ډیر شېرینه ډیر ابداره
پښتنو د پاره واړه دا خواری می شوه په غاړه

خپل وطن دبېلتون په حال کښې داسی یادوی :

که «مرغز» لرم وطن ترې جدایم په داتن
دا امید لرم له خدایه که می بوزی له دی ځایه
که سفر کړې د ختن هېر به نکړې خپل وطن
شکسته حلقه د میم شوم په پشت خم په زړه دونیم شوم
چه می قد الف په شان و په رفتار سرو روان و
په مثال شه لکه دال په جفا سره پایمال
په کمند د غم اسیر یم بې وطنه اوس فقیر یم
د ختن د ملک غزال یم اوس بندی د غم په جال یم

بل ځای د «مرغز» داسی ستاینه گوی :

دا «مرغز» دی عجب ځای مفرح دی دلکشای
تمام کان دی د جوهر مرغزار دی تازه تر
دا آواز شه پر جهان د مرغز دی کم نشان
چه «حافظ» لری وطن ډېر ئې ستایی مرد و زن

خپل نسب داسی ښیی :

که حافظ عالی نسب دی که په ذات خپل دی عرب دی
د حضرت صدیق اولاد دی په قریشو کښې دی یاد دی
دا بې هیڅ نشی په کار بې له فضله د ستار



دسلطان ابراهیم جمات

دسلطان بهلول لودی قبر چه سلطان سکندر لودی جوړ کړی دی

دحافظ دژوند نورحالات راڅرگند نه شول، خودومری څرگندېږی چه ددی شاهنامې دنظم کولو په وخت کښې پوخ سړی اوعمرئې پنځوسو، کالوته رسیدلی و، لګه چه وائی :

زما عمر دی پنځوس . څه له ما وشو افسوس

کوم بل څه چه څرگندېږی هغه دده دوزی نوم «محمدی» دی چه وایی :

دمحمدی دمرگ ناره شوه پرې سینه زما پاره شوه
په جمو کښې دا خبر شه پرې سوخته زما جگر شه
دیعقوب په دو دمحزون شوم په میزان دغم موزون شوم
چه می نور ود بصر په هجران شو زبر زبر
په فراق می زړه پاره شه د دردو نو فواره شه
د پیرۍ امسا شوه ماته دغه حال دی وایم تاته

د شاهنامې د نظم گولو نیټه داسی ښئی :

چه زر سل و، اویا کاله سن د هجر زما لاله
شپږ ته نور کړه سره ضم چه تاریخ ترې نشی کم

په پای کښې د خپلی شاهنامې ستاینه په دې الفاظو کښې گوی :

پښتنو د پاره پاره ما خواری و کړه بسیاره
که ښه و کړی پرې نظر ته به شیر شی د کشور
که ستا نه وی اعتبار چه ما و کا دا گفتار
ته ئې و گوره بیان چه څه حال کا درعیان
شاهنامې ته که څوك گوری په نظر ئې راشی توری
نور به شیر شی د ځنگلو فیل به مات کا په منگلو
که ئې ښځی بیت خوانی کا دوی به تل پهلوانی کا

داوه ددې شاهنامې اودشاهنامې دناظم لنډه پېژند گلوی چه دهمدې شاهنامې له متن څخه لاس ته راغله ؛ اوس به ددې شاهنامې عناوین په هغه ترتیب سره چه په دې کتاب کښې راغلی دی د کابل مجلې لوستونکوته وړاندی کړو، اوهم امید دی چه پښتو ټولنه به ددې شاهنامې په پوره چاپولو ژر بریالۍ شی :

دشاهنامی عناوین دادی:

۱ـ ثنا: چه په دې بیتونو شروع کېږی:

اول ثنا ده دسبحان — چه پادشاه دی دجهان
که هزار می شی زبان — په څو قسمه که بیان
نه به شی له ما ادا — که گو یاشی واړه دا

(له لومړی مخ څخه تر څلرم مخ پوری)

۲ـ نعت: چه لومړی بیتونه ئې دادی:

ته زما گوره اشعار — چه بیان که دا سرار
چه حضرت نهی سرورو — دهر چا دزړگی سرو

(له څلرم مخ څخه تر نهم مخ پوری)

۳ـ منقبت: چه دسر بیتونه ئې دادی:

ته له ما واوره مذکور — چه دی زړه کې تمام نور
دا اسرار دی رنگینه — ښه درونه گنجینه

(له نهم مخ څخه تر ۲ مخ پوری)

٤ـ دیباچه: داسی شروع کېږی:

زما په شعر کړه ته گوش — چه بلند شی په دا هوش
په تنظیم زما نظر کړه — ښه تازه پرې دا بصر کړه
پرې دماغ کړه معطر — چه مذکور شی د کشور
شاهنامه ده رنگینه — د خوبۍ ده گنجینه
په ترازو دعقل سنج — جواهر لری د گنج
ښه درونه دی ابدار — کې پادشاه شی خریدار
شاه نامه ده نوعروس — نه ثانی لری په طوس
سزاوارده دپادشاه — د بد به لری پر ماه

(له ۱۲ مخ څخه تر ۲۲ مخ پوری)

۵ـ دنادر پادشاه حال: په دې بیتونو شروع کېږی:

دجهان گوره ادبار — چه قدم شه دا فشار
خاصیت ئې و، دبوم — په جهان ئې تللی نوم
نه په اصل کیانی و — نظر قل چه ایرانی و

(له ۲۲ مخ څخه تر ۲۷ مخ پوری)

۶- دچمکنۍ دحضرت تګ لاهور ته او دنادر شاه مړینه: دشروع بیتو نه ئې دادی:

چه پیدا صاحب عرفان شی په طلب ئې درست جهان شی
چه سالار داولیا وی عبادت ئې بې ریا وی
لکه نمر چه د سما وی په جهان تمام نما وی

(له ۲۷ مخ څخه تر ۳٤ مخ پوری)

۷- دشاه جمجاه احمد شاه دردران جلوس: چه دسر بیتو نو ئې دادی:

دنادر چه و، اقبال په با دلاړ شه د زوال
په عدم سره مسمار شه په هوا پور ته غبار شه
په جنبش راغی جهان زلزله شوه په میدان
نیک اختر تاثیر همای مبارک عروج نمای
احمد شاه درا بدار په جلو شه نمودار
چه لباس ئې سلطانی و مرصع په خاقانی و
داجامه شوه په ده جوړه دقسمت په ځای کې یوړه

(له ۳٤ مخ څخه تر ٤۲ مخ پوری)

۸- د نواب ناصر خان تښتېدل: چه لومړی بیتو نه ئې دادی:

چه دچارا شی ادبار خیالات شی وردو څار
په بطلان شی دخپل کا که بالفعل وی جیغه دار
خبر نه وی چه تقدیر تبسم که په تدبیر
چه ناصر و کا دلیل دپادشاه دی فوج قلیل

(له ٤۲ مخ څخه تر ٤۸ مخ پوری)

۹- دظل سبحانی توجه دلاهور خواته: په دې بیتو نو شروع کېږی:

ښه بیان دی داسرار مرغلری دی آبدار
تې زیور کړه دخپل گوش چه چالاک شی په دا هوش
چه مذکور دی شهانه گفتگوی دی مردانه
چه خسرو شه په دالور دغریب پیدا شه زور
پشاور شه گلستان بلبلان شوه په الحان

(له ٤۸ مخ څخه تر ٥٦ مخ پوری)

۱۰ـ دشهنواز خان مخالفت: دسر بیتونه ئې دادی:

ته زما گوره اشعار چه مضمون لری ابدار
په کلام می وکړ هوش په میلان کړه ورته گوش
کشاده کړه خپل بصر په تنظیم ئې کړه نظر

(له ٥٦ مخ څخه تر ٦١ مخ پوری)

۱۱ دظل سبحانی او شهنواز خان جگړه: داسی شروع کیږی:

که دعقل په تقویم ددنیا گوری تنظیم
بیا ئې نه مومي اثر چه دی کل یوم بتر
دفساد بلند سموم شه دآفت شر گندجهوم شه
په جنبش راغی ءپنجاب تمام کان شه دسیماب

(له ٦١ مخ څخه تر ٧٠ مخ پوری)

۱۲ـ دجهان آباد دوزیر قمرالدین سره جگړه: دسر بیتونه ئې دادی:

دناصر چه حال تباه شه په فساد عالم گواه شه
په تاراج ئې مال اموال شه په پنجاب کښې دامقال شه
پری دیاسه دا آواز چه خراب شه شهنواز

(له ٧٠ مخ څخه تر ٧٤ مخ پوری)

۱۳ـ دظل سبحانی آزمیښت: په دی بیتونو شروع کیږی:

چه پادشاه که چاخبر تماسی دهند لښکر
په دالار دی راروان تور غبار دی پر آسمان
درست جهان سره په ښور عجب راغی په دا زور

(له ٧٤ مخ څخه تر ٨٠ مخ پوری)

۱٤ـ دسرهند خواته دظل سبحانی تگ: داسی شروع کیږی:

چه تدبیر وشه د جنگ تمام ورك شه دزړه زنگ
په دوبارکی زر نثار حساب کله و، د شمار
په دا زر په خزینه تمام فوج شه رنگینه
که سپاهی ته ورکړی زر د دښمن به راوړی سر
په داطور شه خبر دار چه سپاهی دی نشی خوار

(له ٨٠ مخ څخه تر ٨٤ مخ پوری)



لودی باغچه سلطان سکندر جوړ کړی دی دلته هم داود یانو هدیره ښکاری

دسلطان ابراهیم لودی دقبر عمومی منظره

۱۵-دسرهند په میدان کښې جګړه: دشروع بیتونه ئې دادی:

فلك بیا شه باز یګر په جهان د چا که سر
په لباس شه رنګینه په تذ و یر شه کمینه

(له ۸٤ مخ څخه تر ۹۷ مخ پوری)

۱٦-دنواب معین الملك تګ لاهور ته: په دې بیتونو شروع کیږی:

د فلك شعبده باز هیڅ معلوم ئې نه دی راز
که یوولی په داخاك د بل سر کا پر افلاك
که یو کا تر خاورو زیر بل نامی کا لکه شیر
څه عجب لری طلسم نه ئې رسم شته نه اسم

(له ۹۷ څخه تر ۱۰۳ مخ پوری)

۱۷- دظل سبحانی تګ له کابله لاهور ته: دسر بیتونه ئې دادی:

ته زما کوره تحریر په قلم ښکلی تصویر
چه عاشق شی مستانه قلندر شی دیوانه
که دریاب په شان کاشور په باطن به ستا کا اور

(له ۱۰۳ مخ تر ۱۱٦ مخ پوری)

۱۸-دهند څخه دظل سبحانی راګرزېدل دایران خواته: شروع ئې په دی بیتوده:

چه روان شه شهریار و ایران ته په دالار
په جنبش شه تمام فوج تری غبار شه په دا اوج
ښه ګردونه شوه څرګند تر آسمانه شوه بلند
په جهان کی شه آواز چه ایران ته ځی په تاز

(له ۱۱٦ مخ څخه تر ۱۲۳ مخ پوری)

۱۹-دشاه جمجاه احمد شاه در درانی او معین الملك جګړه: دشروع بیتونه ئې دادی:

چه ده واوری دابان دهر جا شه پرزبان
په هر لور شه دا مذکور چه په واورو ملك شه پور
دا خبر شه په هر لور که کابل و، که لاهور

(له ۱۲۳ مخ څخه تر ۱۳۸ مخ پوری)

۲۰-دلاهور دشاه دری څنګ ته دپادشاه جمجاه له خواجشن: په دی بیتر نو شروع کیږی:

چه فارغ شه شهریار په رونق شه تمام کار

په تنظیم راغی لاهور
دشاه دری لاهور ترمیان

گلستان شه په هر لور
شه بارگاه دعالیشان

(له ۱۳۸ مخ څخه تر ۱٤۲ مخ پوری)

۲۱- دجهانپه ناره دظل سبحانی جگړه:

ای قلمه ښه تحریر کړه
چه کلام دی سحرخیز
ښه قصه کړه در فشانه
ښه در و نه کړه نثار

دسر بیتونه ئی دادی:

فرنگی هنر تزویر کړه
نکته دان وی گوهر ریز
ته گوی یوسی له میدانه
جور سحاب شه د بهار

(له ۱٤۲ مخ څخه تر ۱۵۰ مخ پوری)

۲۲- دشاهجهان آباد تا راجپدل:

چه سباشه نمر نمود
چه بلند ئی شه اثر
دپادشاه لښکر تیار شه
چه داخل په جهان بادشه

شروع ئی په دی بیتو نوده
په دا نه افلاکه زود
په جهان ئی و کینې سر
جهانابادته په دالار شه
تمام ملك سره فریاد شه

(له ۱۵۰ مخ څخه تر ۱۵٤ مخ پوری)

۲۳- دظل سبحانی توجه دجینگر خواته:

دهر ملك چه انتظام شی
ښه رونق شی دعالم
دپادشاه و دانظام

داسی شروع کیږی:

تازه گی دخاص و عام شی
دجهان پری لاړ شی غم
چه عالم شی پر آرام

(له ۱۵٤ مخ څخه تر ۱۷۳ مخ پوری)

۲٤- دظل سبحانی تگ دشاهدری خواته:

دشاهنامی گوره داستان
ته به گرزی خوش خرم
شاهنامه ده گلستان
څه عجب لری بهار
شگفته غنچه د گلو

په دی بیتو نو شروع کیږی:

ښه چمن دی دبوستان
گویا باغ دی دارم
که خبر شی ماهرویان
د بلبلو پری چغار
خالی نه ده له بلبلو

(له ۱۷۳ مخ څخه تر ۱۸۰ مخ پوری)

۲۵- دظل سبحانی پوری وتل له جهانا څخه:

ته نظر کړه په دا قال
کشاده کړه خپل بصر
دطاؤس په دود جهان

داسی شروع کیږی:

چه معلوم شی تمام حال
چه جدا شی خیر و شر
تلون لری عیان

(له ۱۸۰ مخ څخه تر ۱۸٤ مخ پوری)

۲۶-په پانی پت گنبی دنجیب الدوله جنگ: دسر بیتونه ئی دادی:

چه ورنه شی دچا کار — هغه شی په زړه بیمار
نی آرام وی نی قرار — نښتی وی په زړه ئی خار

(له ۱۸۵ مخ څخه تر ۲۰۱ مخ پوری)

۲۷-په پانی پت گنبی دظل سبحانی جنگ: داسی شروع کیږی:

که تحریر گوری زما — په جهان به شی نما
خزینه به دا سرار شي — رنگینه به په گفتار شي
چه کلام دی زما در — په حکمت په جوهر پر
ښه مضمون لری صفا — پکی هیڅ نشته خفا

(له ۲۰۱ مخ څخه تر ۲۲۶ مخ پوری)

۲۸-دپادشاه جمجاه اغماض دوزیر شاه ولیخان په باب گنبی: دسر بیتونه ئی دادی:

که څوك وی بلند په جاه — په یو دم به شی تباه
فلك تل کانا مرادی — په فنا لری ښادی

(له ۲۲۶ مخ څخه تر ۲۲۸ مخ پوری)

۲۹-دپادشاه جمجاه اغماض دقاضی ادریس خان په باب گنبی: په دی ډول شروع کیږی:

که سړی بلند په جاه شی — په غرور ئی کج کلا شی
مقرب که دخاقان شی — په بلند پایه اسمان شی

(له ۲۲۸ مخ څخه تر ۲۳۰ مخ پوری)

۳۰- عشقیه: شروع ئی په دې بیتونوده:

د فلك دی کج رفتار — اژدها دی زهرمار
عجب پیر دی پشت کمان — څرگند ېږی لکه ځوان
دورنگه دی لکه شیر — تلون لری دلیر

(له ۲۳۰ مخ څخه تر ۲۴۳ مخ پوری)

۳۱- د شاهنامې خاتمه: چه په دې بیتونو شروع کیږی:

چه څوك جوړه کاکیمیا — ترې پیدا شی اقلیمیا
ښه دارو به د بصر شی — پرې روښانه به نظر شی

(له ۲۴۳ مخ څخه تر ۲۴۸ مخ پوری)

(پاتی په ۱۲ مخ کښی)

ښاغلی غلام سرور «رحیمی»

د غرب تمدن

-۳-

اولنی پېړی :

ارسطو :

سره له دې چه ارسطو داجتماعی اوسیاسی اوضاعو په باره کښې ګټوری نظرئې ورکړی دی لکه چه یادی شوې دی، ذکی فیلسوف دا قتصادیه باره کښې هم ښې او مفیدې نظریې څرګندی کړی دی چه تراوسه داقتصادیه دکتورین اونظریاتو کښې لوړمقام لری. دارسطو اقتصادی دکتورین په لاندې ډول سره لنډېدلای شی: ارسطو ته غلامان د تولیدا تو یوه ژوندی وسیله وه او دارسطو په عقیده غلامانو دځان څخه کومه مستقله اراده نه درلوده.

دارسطو نظریه داوه چه ځینی خلک قوی روح اولوړ ذهنیت لری، نو داخلک باید رهنمایان وی اوځینی خلک ضعیف روح او کښته ذهنیت لری چه داخلک باید پوه شی او کارځنی واخستل شی.

دارسطو دانظریه د محیط څخه پیداشوی ده او محیط څخه ئې الهام اخیستی ؤ.

څرنګه چه دارسطو په زمانه کښې غلامی وکمال ته رسیدلی وه او دطبقاتو انتقال په تېره بیا دغلامی طبقی وعالی طبقی ته هیڅ نه واقع کېده نو ارسطو دانظریه پیشنهاد کړی ده او غلامی ئې منلی ده بلکه هغی ته ئې فلسفی اساس ورکړی دی که څه هم او سنیو تجربو او دروحیاتو او بیالوجی علمو نو دا نظریه غلطه ثابته کړی ده او اوسنی علما، معتقددی چه انسان مساوی پیدا کېږی او دوی فطری استعداد دخلقت څخه مساوی دی او دتربیې، محیط، روزنی او تعلیم په اثر اختلاف پیدا کوی.

دثروت په باره کښې ارسطو داسې نظریه څرګنده وی چه تولید او تحصیل په خپله دجامعی مقصدا ومرام نه دی بلکه ثروت دارامی اور فاهیت یوه وسیله د.

دارسطو دانظریه چه ثروت ئې دجامعی درفاهیت او ارامی یوه وسیله بللی ده.

(پاتی به ۱۳ مخ کښې)

(د ۱۱ مخ کښې)

دخاتمې وروستنی بیتونه ئې دادی :

شاهنامه شوه اوس تمام — دپر درود وپر سلام
په محمد آخر زمان — چه ځووی مز که آسمان
هم په آل په هم اصحابو — په داکمل واره احبابو
شاهنامه مې شوه منظوم — په کاغذباندی مرقوم
ای حافظ طوطی زبانه — ژبه بند کړه له بیانه
په داختم کړه گفتار
په تنظیم مکړه اشعار

صحیح او درسته ده او د اقتصاد او سنی علما خصوصاً یوه طبقه چه په خواخوږو سره مسمی ده دارسطو د همدی نظریې تائید کوی او هغه دخپل د ګټورین اساس بولی نه مقصد او مرام.

ارسطو د ثروت وسائل په دوې برخې وېشلی دی: یوه طبیعی وسیله ده او بله غیر طبیعی

دارسطو په عقیده طبیعی وسیله ښکار، دماهی نیول، زراعت دحیوانا تو تربیه او بحری غلاوه او غیر طبیعی وسیله ئې تجارت او تبادله وه.

دثروت داغیر طبیعی وسیله ارسطو په ښه سترګه نه کتله او دده په نظریه تجارت دیوه سړی په ګټه او د بل په تاوان تمامېږی او په تجارت کښې فریب او چال رول لوبوی.

داچه تجارت دفریب په معنی راغلی دی نورو کتابونو هم قید کړی دی او هغه ئې دارسطو په اساس په خپله فریب بللی دی. تجارت کتابونو دچم او فریب، لار او طریقه، زحمت او تکلیف په معنی لیکلی دی، او سنی علماء تجارت فریب نه بولی او هغه دزمان یا مکان د اختلاف په اساس یوضروری فعل بولی او تجارت ددغه زمان یا مکان داختلاف څخه استفاده کوی مثلا: دزمان اختلاف داډول دی چه نن یومال ارزانه دی تجار هغه نن رانیسی او هغه وخت ئې خرڅوی چه ګران شی، او دمکان اختلاف داډول دی چه نارنج په مشرقی کښې ارزانه دی، تجار ئې هلته رانیسی او په کابل کښې ئې خرڅوی نو دې تاجر دمکان داختلاف څخه استفاده وکړه او هغه لمړنی تاجر دزمان داختلاف څخه استفاده وکړه.

بله داقتصاد مهمه موضوع آرزش دی او ارسطو هم په دې باره کښې نظریه څرګنده کړی ده ارسطو وائی چه هرشی دوې فائدې لری یوه اصلی فائده او بله فرعی فائده. د اصلی فائدې څخه دارسطو مطلب دیوه شی استعمال او منفعت ؤ او دفرعی فائدې څخه ئې مطلب دهغه شی په مقابل کښې دنورو شیانو تبادله وه په او سنۍ اصطلاح کښې ارزش پردوه ډوله دی یو استفادوی آرزش او بل تبادلوی آرزش دارسطو په نظریه تبادلوی ارزش پر استفادوی آرزش باندې منحصر او متکی دی او استفادوی آرزش د انسان په احتیاج او اړتیا پورې اړه لری مثلا یو قلم دوه ارزشونه لری یو استفادوی یعنی دقلم څخه څونه استفاده او کاراخیستل کېږی او بل تبادله وی ارزش یعنی دقلم په مقابل کښې دنورو شیانو او یا پیسو څونه اندازه تبادله کېږی.

دپیسو په باب کښې ارسطو صحیحی نظریې ورکړی دی او پیسی ئې دیوې جامعی دپاره ضروری بللی دی. ارسطو وائی چه پیسی په جامعه کښې دالاندینۍ څلور وظیفې اجراء کوی:

۱- پیسی دمبادلې یوه وسیله ده.

۲- پیسې دارزش معیار دی یعنی پیسی د هرشی ارزش ټاکی او معلوموی.

۳- پیسې دراتلونکی وخت ذخیره تعین کوی.

٤- دپیسو په واسطه آینده پورونه ټاکل کېږی.

(پاتی په ١٤ مخ کښی)

ښاغلی واله

مینه نه آسمانی ده نه مځکنی

خلق وایی چه مینه یو ږغ دی چه داحساس دنر یو مز یو درپېدو څخه پیدا کېږی او دروح دصفائی سره ګډېږی، په اوښکو تصفیه کېږی او د کتلو دبرېښنا سره آسمان ته ځی.

سندر غاړی داږغ دور ایه اوری خو تقلیدئې کولای نشی. دچمن مرغان ئې په یو مر موز کیف سره بولی مګر په معنائې نه پوهېږی.

د پسرلی زړه خو ښو نکې منظره او د منی رنګینه دنیا ئې په راز راز رنګو کښی ښکاره کوی مګر نقاش یوا ځې یوه بېروحه تابلو ځنې کاږی، نودا تښتېد و نکی آرزو، دامر موز کیف او دا نه و یل کېد ونکی شکوه څه شی ده او په کوم ځای پوری اړه لری؟ مینه نه آسمانی ده او نه مځکنی، بلکه د آسمان او مځکی په مینځ کښې یوه جلا دنیا ده!

(د ۱۳ مخ پاته)

تو او داقتصاد علماوو تر اوسه هم دغه دپیسو څلور وظیفی منلی دی او دپیسو وظیفی په یوه جامعه کښې داپورته څلور وظیفی ښئی. ارسطو سود په بده ستر ګه لیدلی او پیسی ئې بې بهری بللی دی، یعنی یوه پیسه بله پیسه نه شی تولیدو لای نو سود ممنوع دی، دادارسطو نظریې ته نورو علماوو خصوصا بهبو دی غو ښتو نکو او روحانیو نو، د مذهب پیشوایانو په ښو ستر ګو کتلی دی.

ارسطو وائی چه دپیسو ارزش متحول دی اما بیاهم تر نورو شیانو نسبتا ثابت دی، دا نظریه دارسطو هم صحیح ده.

ښاغلی لونګین

وی دې

که زمانه د وخت نواوی وی دې
ژوندون که واړه واویلاوی وی دې

ما له ئې مینې دلجو ئې را کړی
هغه که تو له استغناوی وی دې

حسن مې ګل شولو اغزی ستر ګو کښی
که درد بد لې التجا وی وی دې

څوك چه په غشو پیوندو نه ګنډی
که غوڅېد ل ئې په نګاه وی وی دې

ستادې موسکی شونډې بهار وی همیش
نم مې که ستر ګو کښی ژړاوی وی دې

اوس زما مینه تنها ئی لټوی
د چا په زړه کښې که سوداوی وی دې

نن ئې خومارو ستر ګو داوو یل
که «لونګین» زما اشناوی وی دې

چه صبائی پر هر گل باندی طواف کا

زه هوس دهغه باغ لرم له شوقه

شمس الدین

د بهار په موسم سیل د صحرا دی — هر بلبل په زمزمه د مرحبا دی

زرغون فرش دی د سبزی پر غوریدلی — د هر گل سایه ئی چتر د هما دی

سره قبا ارغوان واغوسته له ذوقه — زرغونه عصا په لاس کښی هر گیا دی

څراغان د شگوفی دی په هر باغ کښی — په هر ښاخ جدا جدا بلبل گویا دی

صراحی غنچی په غیږ کښی ده اخیستی — لاله جام پر لاس نیولی مهیا دی

په بهار دیدله ښه یاره سره ښائی — وحنان و ته زندان سو چه تنها دی

میرزا حنان

طرفه صحراده ښه مرغزار دی
موسم د سیل هنگام د ښکار دی

له خوبه پاڅه غنوده یاره
زیبا گلونه تازه بهار دی

کاظم خان شیدا

ښاغلی محمد صدیق پسرلی

وروستی مینه

لکه په چاچه ژوندون خوږشی خودبل دپاره
یالکه شمی چه جوړ ېږی د محفل د پاره
یالکه ټیك چه تولوی زړونه اور بل دپاره...
دتاپه مینه می په شعر کښی دنیاهېره کړه
لکه ماشوم چه په کالو کښی مشغولا هېره کړی
یامی پرست چه په ساقی پوری صهبا هېره کړی
یا کوم مین چه په وصال کښی تمناهېره کړی...
ما په لیلی لیلی ویلو کښی لیلی هېره کړه
لکه مظلوم نه چه مقصد په اوسېلو کښی ورك شی
یابی گناه محکونه عذر په کتو کښی ورك شی
لکه بلبل نه چه گلان خپلو نغمو کښی ورك شی
ما نه خپل شعر د گل مخو تماشا هېره کړه
لکه غمی چه د گیڼی په سپینو سرو کښی بټ شی
یادلمرمخ چه په نظرسونکی شغلو کښی پټ شی
یا کوم مضمون چه په رنگینو کنایو کښی پټ شی...
ما نه سترگك د شعر پټه مدعا هېره کړه
لکه مڼه چه خایسته وی له خوړو پاته شی
یاد ښایست په گناه پېغله له سیلو پاته شی
یاخوش الحان مرغه محروم له الوتو پاته شی
دهوسائی اندېښنې شه طبع دا ما هېره کړه

ښاغلی محمد ابراهیم خواخوږی

پسرلی دی

ټول شېنلی له خوب څخه راویښ شول او د عالم ټولو موجودا تو ځان نوی ژوند ته اماده کړ!

خو ته لا ددې درانه خوبه څخه نه ئی پاڅیدلی او د حیات د تکمیل هڅه لاستا هیره ده.

گرانه! نه ئی خبر چه ښکلی پسرلی راغلی دی؟

دا هغه فصل دی چه ښکلی گلان سر له خاورو را باسی او د حرکت د رمز سره ځان اشنا کوی ایا ته د بلبلانو نغمی نه اوری!

وړو کی مرغان د گلانو د ډکو ښو چارا چاپیرالوزی هوس کوی د گلانو او ونو پر سرونو گرزی او د نوی ژوند نغمی وائی.

آه گرانه! د دوی دا دمینی ډك ږوږ. ولی تا له خوبه نشی راویښولای.

ځیر شه، پام وکړه دا ټول د دې دپاره دی چه ته د رونو سترگو له خوب څخه راویښ شی- چار چاپیرو گوری -غورو کړی او ...!

* * *

د پسرلنی وږمی په الوتنه گلان هم ناڅی او په ورو یو بل ښکلوی د دی وضعی څخه د ژوند سره د مینی او محبت اثار ښکاری ځکه د عه ښکلی گلان چه په تیرمنی مراوی شوی او خپل خروب والی ئی له لاسه ورکړی ؤ په دی پسرلی بیا له خوبه پاڅیدلی په نخرو او نڅاو وئی لاس پوری کړیدی.

ته هو! نه ولی نه پاڅی- ځان نه سره ښو روی او د پسرلی په مقتضی ځان د همدغه حرکت به رمز نه پوهوی!؟

* * *

گرانه گلان په نڅا دی، خاچونی د پسرلی نغمی بولی- زه هوزه استادو یښېدو په انتظار یم وخوځه- سترگی رونی کړه پسرلی دی ونی په شگوفو سنگاری دی غرونه او رغونه په شنو و ښو او طبیعی گلانو ښکلی- هوا ښه- او زړه خوښوونکی وږمه روانه ده!

نو ته هم د دغه حرکت تازگی او نوی ژوند په رمز پوه شه ویښ شه او حرکت وکړه!

پسرلی دی هو! پسرلی دی ځنډمه کوه پاڅه چه... !!

ښاغلی محمد حسن «ساپی»

کال چه نوی شی!!

کال چه نوی شی، نو هر څه ور سره نوی کیږی، هر څه بدلون کوی هر څه ځانته بل رنگ اخلی، هر څه ژوند له سره شروع کوی او بالاخره هر څه ...

دا خو ځکه چه تحول جبراً د طبیعت ناموس او دوخت او زمان ایجاب او تقاضا ده.

د طبیعت دغه مطلق او قانونی حکومت ته انسانان، حیوانان او نباتات ټول خاضع او تابع دی.

دا خو لا څه چه د طبیعت ژوندی عناصر گڼل کیږی، حتی جمادات هم له دغه قانون لاندی راځی!

منتها دوی (جمادات) سترگی او شعور نلری چه د طبیعت د دغه قانون حکمرانی احساس کړی او یا ئی و وینی، او که نه طبیعت د دوی په رنگ، خوند، وزن یعنی د دوی په کمیت او کیفیت کښی هم حتما بدلون راوستی دی.

طبیعت هم پخپله تحول پذیر دی او هم تحول ورکوونکی

انسان ، حیوان ، نبات، جماد چه دطبیعت عناصر دی جبراً تحول مومی په تېره بیا انسان چه دطبیعت بوفوق العاده متلون او تحولپذیر عنصر ګڼل شوی دی.

طبیعت خپل هرعنصر ته دتحول او انکشاف استعداد په متناسب ډول ورکړی دی.

انسان ته ئی په یوه اندازه نورو حیواناتو ته ئی په بله اندازه او نباتاتو اوجماداتو ته ئی بیا په یو بل معیار.

چه خوشبختانه نسبت نورو عناصرو ته انسان دتحول او انکشاف ډیر زیات استعداد لری.

له همدې کبله انسان پداسې حال کښې چه پخپله د طبیعت مولود دی یو داسی غښتلی او پیاوړی عنصر هم دی چه طبیعت او طبیعی عناصرو تولوده باداری او حکمرانی ته غاړه ایښی ده.

اوس چه خبره داستعداد منځ ته راغله ، باید وویل شی چه یوالحی استعداد نشی کولای چه پخپل سر انکشاف وکړی بلکه داستعداد دانکشاف دپاره نور عوامل اووسائل اوشرائط پکار دی. مثلا یو نیالګی او یا یو بوټی هغه وخت نمو کوی اوزرغونېږی چه په متناسبه اندازه نور، حرارت، او به او مناسبه خاوره ومومی او که له دغو شرائطو او عواملو څخه یو هم نه وی. نو څرنګه چه ښائی هغسی نمو او انکشاف نشی کولای.

په همدی ډول شرائط او عوامل هم هغه وخت مؤثر لوېږی چه په یوڅه کښې استعداد موجود وی. دمثال په ډول: که په یو ځای کښې هغه عوامل او شرائط چه دنبات دنمو دپاره پکار دی، ټول هم موجود وی، که څوک یو اور لړونی دنیالګی په حیث کښینوی، نو خوشی چې خپل ځان ستری کوی، ځکه چه په اور لړونی کښې دشنه کیدو استعداد نشته.

په پورته لنډ بحث کښې مودا ښکاره کړه چه استعداد بی له لازمو شرائطو او عواملو انکشاف نه کوی او عوامل او شرائط بی له استعداده مؤثر نه لوېږی.

نو څرنګه چه انسان له یوې خوا د ډېر ذاتی او طبیعی استعداد خاوند دی او له بلې خوا دخپل استعداد دانکشاف دپاره هم له طبیعی عواملو او شرائطو او وسائلو څخه استفاده کوی او هم دغه راز عوامل او وسائل پخپله پیدا کولای شی؛ همدغه ځای دی چه انسان په طبیعت او طبیعی عناصرو باندې حکومت او سرداری وکړله.

ځکه د طبیعت نور عناصر چه وغواړی انکشاف وکړی له هغې دائرې نه چه طبیعت دهغو په شاوخوا کښې ده نشی وتلای. او له کومو عواملو او وسائلو څخه چه طبیعت ددوی دانکشاف دپاره تاکلی دی، په هیڅ ډول نشی کولای چه له هغو څخه ځان مستغنی او بی نیازه وګڼی او پخپله خپلی نمو او انکشاف ته وسائل اوزمینې برابرې کړی.

مثلا که طبیعت او انسان دواړه دغنمو دنمو او انکشاف دپاره لاس یو کړی؛ بیا هم دغنمو بوټی نشی کولای چه له یو نیم متر (نهائی حد) څخه لوړ شی. نباتات او نور حیوانان دخپل انکشاف دپاره زیاتره دطبیعت شفقت او مهربانی ته اړدی. که طبیعت ددوی داستعداد ونو دانکشاف دپاره ښه زمینه مساعده کړه؛ انکشاف

کوی او که نه له منځه ځی او د طبیعت له قهر او ناخوالو سره د مجادلې قدرت او طاقت هم نلری، او نشی کولای چه ځانته ښې زمینې پخپله برابرې کړی.

مګر د انسان نمو او انکشاف ته طبیعت کومه دائره او حد ندی تاکلی او انسان د خپلی زیاتې ځیرکۍ چالاکۍ له کبله هم د طبیعت له ودائعو او مهربانیو څخه استفاده کوی او هم ورسره مجادله

مګر دومره خبره ده چه د طبیعت نور ژوندی عناصر که پخپله ځانته ښه زمینه نشی برابرولای نو له هغې زمینی څخه چه طبیعت هغه هم د زمان او مکان په قید سره ورته برابره کړېده په غیر شعوری صورت مګر ارو مرو استفاده کوی. لکه د بېدیا وچ بوټی چه هېڅوک تصور نشی کولای چه هغه بوټی به بیا یو وخت زرغون شی او وبه لګېږی. خو کله چه طبیعت په پسرلی کښې ورته متناسبه او مناسبه او به، نور، حرارت او خاوره ورسوله نو هغه وچ او ژړ بوټی بیا شین او زرغون شې! په هغه بوټی کښې د زرغونېدو او لګېدو استعداد ؤ؛ منتها هغه د خپل استعداد د انکشاف د پاره له یوې ښې زمینې چه هغه هم پسرلی ورته مساعده کړې وه (نه پخپله) استفاده وکړه.

مګر له بده مرغه ځینی انسانان نه پخپله د ځان او جامعې د نېک مرغۍ او سعادت او اعتلا د پاره یوه ښه زمینه برابروی او نه له هغو ښو زمینو څخه چه طبیعت او محیط ورته برابرې کړې وی؛ استفاده کوی!

مونږ نه دا چه د ځان او د ولس د نیک مرغۍ او اعتلا د پاره کومه ښه زمینه مساعده نکړه، بلکه پخپل لاس مو ځان او ولس ته مشکلات وتراشل چه د هغو له جملې څخه یو هم زمونږ د غم او ښادۍ پورې مربوط ناوړه دودونه دی.

چه د دغو ناوړو او نامعقولو دودونو په اثر پخپل لاس خپلو فردی او اجتماعی اخلاقو او اقتصادیاتو ته مولویه صدمه رسولې ده او خپل دغه لنډ ژوند مورا باندې په لوی لاس تریخ کړی دی او لکه غمی پخپلو ترشحاتو کښې لاس او پښې و هو او بالاخره په ډېره بیچارګۍ او ارمان سره ځان ور کوو.

هو! دغه دودونه چه له مانه هم تاسو ته پوره څرګند دی بل چا را باندې ندی تحمیل کړی بلکه خپله پخپل لاس مو هغه هم د ځان د پاره ایجاد کړیدی.

په همدې ډول د تربګنۍ، ځان ځانۍ، نفاق او ګوندیمارۍ سره دومره علاقه ښکاره کوو چه ته به وائې دا زمونږ د فطرت تقاضا ده. او د نفاق او ګوندیمارۍ بوی او خبری داسې ښې را باندې لګېږی لکه عطر او موسیقی.

که څه هم چه زیاتره پیسې نلرو؛ خو مځکه، کور، جایدات او نور په نورو خرڅوو او په پیسوئې هغه هم د خپل ورور او یا تره زوی د ښمنی را نیسو. مګر صلح او دوستی چه بیخی وړیا هم لاس ته راتلای شی: ډېره لږه اړتیا هم ورته نه احساس کوو!!!

په کار، صنعت، تجارت، لیک او لوست باندې خو نه عقیده او نه ورته کوم حیثیت او ارزښت قائلېږو!

په همدې ډول په سلهاؤ داسې نورې وړې لوئې بدبختۍ او مشکلات چه په دغه لنډ بحث کښې حتی د هغو د یادونې قدرته ځای

هم نشته ؛ گر د مو نږ پخپله خپل ځا نته تر اشلی او پیدا کړی دی .

بشر نسبت تخریب ته له تعمیر سره ډېره زیا ته فطری او ذاتی علا قه لری او له همدې کبله دځان او جهان آبادول دهرچا یوه ستره طبیعی هیله ده.

مگر نه پوهېږم! سره لدې چه مونږ هم بشر یو ولې دغی سپېڅلې هیلې اقلاً دیو وخت د پاره هم په مونږ کښې تبارز ونکړ . او دومره چه مو پخپل تخریب کښې زحمت و ېستلی ؛ خپل فردی او اجتماعی تعمیر ته مو هېڅ پام ندی شوی ؟

مخ کښې مو وویل: « کال چه نوی شی » نو هرڅه ورسره نوی کېږي ، هرڅه بدلون کوی ، هرڅه ځا نته بل رنگ اخلی او هرڅه خپل ارتقائی ژوند له سره شروع کوی !

مگر سره لدې چه په مونږ ډیر نوی کلونه هغه هم په ډېر طمطراق او دبدبه راغلل او ولاړل چه له راتگ او تگ څخه ئې هرڅه خبر شول او په تېره بیا دطبیعت نورو ژوند یو عناصرو ئې ښه هر کلی و کړ او ښه استفاده ئې هم ورځنې و کړله ؛

مگر نپوهېږم چه مونږ ولې؟؟!!

ولې نه مو په راتلوئې ځا ن آگاه کړ او نه مو ور څخه استفاده و کړه ؛

نه مو رنگ بل رنگ شو او نه مو طرز تفکر بدل شو ، نه مو په کمیت کښې تغییر راغی او نه مو په کیفیت کښې تحول . او بالاخره نه مو بدبختی په نیك بختی بدله شوه او نه مو... داڅنگه پسرلی ؤ او دا څنگه نوی کال ؤ ؛ چه مړه (بوټی) ئې ژوندی کړل او ژوند یو ته ئې یو لږ غوندی حرکت هم ور نکړ ؟!

آیا په مونږ کښې داشعور نه ؤ چه د پسرلی له راتلو او د کال له نوی کېدو څخه ئې آگاه کړی وای؟ او که استعداد نه ؤ چه دهغه له انرژی او نورو ښو زمینو څخه مو استفاده کړی وای؟

که ووایم چه نه په مو نږ کښې شعور ؤ او نه استعداد نو دا به مې لو به گناه او ستره خطا کړې وی او که ووایم چه مو نږ دپسرلی له ټولو انرژیو او نورو ښو سو غاتو نو څخه مستغنی او بې نیازه یو ؛ نو دا به مې هم درواغ ویلی وی.

واقعاً زما په ځای که هرڅوك وی ؛ بد غه ځای کښې متردد کېږی خوزه نه غواړم چه ځان متردد وښیم

نو وایم چه په مونږ کښې هم استعداد شته او هم شعور او هم پسرلی ښې ښې زمینې برابر ولای شی.

خو دومره خبر ده هغه څه چه زمونږ په فردی او اجتماعی ژوند کښې یو ارتقائی تحول راولی او یا زمونږ طرز تفکر ته تغییر ور کوی او یا مونږ له دعو ټولو بدبختیو او نا خوالو څخه ژغوری هغه پسرلی ندی او د کال نوی کېدل هم کوم رول نلری.

ددغه راز تحول او بدلون راوستل یوا ځې او یوا ځې زمونږ د کار او زیار او د یو صحیح اقتصادی سیستم نتیجه ده او بس (دا چه څرنگه یو صحیح اقتصادی سیستم کولای شی چه زمونږ ټول دردونه درمان کړی او زمونږ ژوندته یو بل رنگ ور کړی دمطالعې مینان یعنی

(پاتی په ۲۱ مخ کښی)

مترجم: ښاغلی ثابت

دفیلادلفی ښار دامریکی دخپلواکۍ ځانګو

نن ورځ له ماسره دامریکی دخپلواکۍ ځانګو ته یو لنډ مسافرت وکړیء.

په ۱۷۷۶ مسیحی کال، یعنی ۱۸۰ کاله پخوا په شمالی امریکا کښی دفیلادلفی دښار په یوه ماڼۍ کښی دانګریزانو دد یارلسو مستمرو نمایندګان سره راټول او غونډه یی وکړه، چه څو دانګریزانو له سلطی څخه دخپل هېواد دخپلواکۍ او استقلال حاصلولو دپاره تبادل افکار او مشوره وکړی. ددغی تاریخی ټولنی او دنو موړو نمایندګانو له خبرو اترو څخه وروسته دهغه کال دجون دمیاشتی په څلرمه نیټه ددغو دیارلسو کولونی ګانو. نمایندګانو دخپل مملکت دخپلواکۍ دپاره رأیې ورکړی او یو خوراستر تاریخی سند یعنی دامریکی داستقلال اعلامیه یی لاس لیک کړه: دغی مهمی او تاریخی پیښی د پیښیدلو ځای چه دامریکی دملت سرنوشت یی ټاکلی او دتاریخ سیرته یی تغیرورکړی دی، یوه کوچنۍ بناده، خو خوراډیر لوړ حیثیت او ستر مقام لری، دابنا «ایندپندنس-هال» یا داستقلال تالار نومېږی چه له ۱۸۰ کلونو څخه وروسته هم لاپاته ده، او نن ورځ دامریکی له خورا مشهورو ملی او تاریخی یادګارونو څخه یو یادګار دی او دفیلادلفی دښار یوه تاریخی ماڼۍ ده او دامریکی خلك هغی ته دزیات احترام په سترګو ګوری.

دامریکی داستقلال او آزادۍ تاریخی اعلامیه چه په دغی ماڼۍ کښی جوړه او لاس لیک شوه په لاندی صورت سره شروع شوې ده:

(مونږ داحقایق واضح او څرګندوو، چه ټول بشری افراد مساوی او یو ډول پیدا شوی دی او پاك خدای (ج) دوی ته خپل نه اخیستونکی حقوق ورکړی دی چه له هغی جملی څخه دژوندانه. آزادی او دنیك بختۍ او سعادت غوښتلو حق دی.)

داستقلال ددغی اعلامیی دخپریدو څخه یوولس کاله وروسته بیا په دغه ځای کښی چه نوموړې اعلامیه لیکلې شوی وه دامریکا اساسی قانون تهیه او جوړ شو.

پاته په ۲۳ مخ کښی

د ۲۰ مخ پاتی

هغه چه نه غواړی بې شعوره ژوند وکړی) په دغه لړ لښی دمسلسلې مطالعې نه پس پوهېدای شی منتها دکال له نوی کېدو او د پسرلی له معتدل موسم نه زمونږ استفاده باید دادی چه دزوړ کال محاسبه پدغه مساعدوخت کښې وکړو او دا ځانته ښکاره کړو چه تېر کال مونږ پخپل فردی او اجتماعی ژوند کښی څه وکړل او ځان او جامعی ته موکومه او څومره ګټه ورسوله- تېر کال مونږ څومره کار وکړ، څومره دوستان موپیدا کړل او څومره کتابونه موولوستل او یا په نوی کال کښې به دغوښو کارونو څخه څومره باید وکړو.

خهره دگل شوه شمع افروزه

بلبل چغار کاله درد وسوزه

چه په موسم دی خوبان هوس کا

ترهوا جارسم دتا نوروزه

پیر محمد کاکر

محبوبا پر پالنگ واوښته په خوب کښې

که هوسی ده د بهار پر گلو رغښته

شمس الدین

ساقی وخت دنو بهار دی شراب راوړه

دشرابو سره نقل دخولی مل کړه

خوشحال

ستا د حسن د آفتاب له گرمه خویه

لکه گل پیلمن پټ تازه شبنم ورم

شمس الدین کاکر

پر سینه دگل بدن گریوان پاره شو

دغنچې له چاکه رنگ دگل ښکاره شو

پیر محمد

لا به د پر گلونه واشی په دا باغ کښې

دگلزار دغوږ بدلوئی اغاز دی

خوشحالخان خټک

چه بلبل ئی رسیدی تر گلو نشی

دادننه په حرم گلزار دچادی

عبدالرحمن

دپسرلی ښکلونکی بیا کړه سنگارونه

بیائی ولونل په غرونو کښی لالونه

ښکارنده ی

سهار دا اوازمی غوږ یوست له بلبله

ستا خندا په ژړا کښی پیستلم گله

عبدالقادر

که څه هم د یوی نیمی تیرشوې پیړۍ په موده کښې په هغه قانون کښې ځینې اصلاحات هم شوی دی خو سره له هغه هم دهغه په اصولو کښې هیڅ ډول تغیر نه دی راغلی.

داقانون څرګند وی چه په دې اوږده موده کښې چه انسانی ټولنه قادره اووس لری چه خپل فردی سعادت او نیك بختی بی د طبقاتی او یا دیکتاتوری حکومت له مرستی او اتکا څخه تأمین کوی دامریکی دتاریخ دشروع کید و خورا مقدس شی د آزادۍ زنګ دی، چه دفیلادلفی دښار داستقلال په ماڼۍ کښې نصب اوجوړ شوی دی دا زنګ چه دیوه تن په اندازه ټول لری یوه ډیره هیجان راړونکی او مفصله تاریخچه لری، او دا زنګ د ۱۷۷۶ کال د جون په میاشت کښې یعنی دامریکی داستقلال داعلامیی له لاس کید و څخه څلورورځی وروسته وغږول شو او اول ځل یی د فیلادلفی دښار خلك داستقلال داعلامیې دمتن داستماع او ارویدلو دپاره راوغوښتل. دفیلادلفی ښار سر بیره پر دې آثارو څونوری تاریخی ودانۍ هم لری چه دامریکی دانقلاب په کلونو پوری مربوطی دی او له هغی زمانې څخه ساتلی شوی دی او دهغو دلیدلو او زیارت له پاره مسافرین او سیاحان ورځی. له هغی جملی څخه یوه هغه ودانی ده چه دامریکا لومړنۍ کنګره په هغه کښې جوړه شوې ده او بله هغه ماڼۍ ده چه د یو روایت له مخی دامریکا دانقلاب په عصر کښې د یوې مېنه دوستې امریکائی میرمنی په لاس چه (بتی دوس) نومیدله دامریکا لومړنی دستوری نښان لرونکی بیرغ پرهغی باندی نصب اوودرول شو.

دفیلادلفی ښار دپنسیلوانیا په ولایت کښې دی، او دامریکی له خورا مهمو صنعتی ښارونو څخه دی او له دوو ملیونو او سلو زرو څخه زیات نفوس لری او له دی حیثه له نیویارك او شیکاګو څخه وروسته دامریکا یو ستر ښار ګڼل کیږی.

داښار دنیویارك او، ویستن له ښار رونو څخه چه دآزادۍ او استقلال دپاره دامریکا دملت په مبارزو کښې د دواړو ښارونو مهم رول لوبولی دی نیم قرن وروسته ودان او بنا شوی دی.

د فیلادلفی ښار په ۱۶۸۱ میلادی کال دځینو اروپائې مهاجرینو له خوا ودان او تاسیس شوی دی.

دامریکی دانقلاب دشروع کید و په مهال کښې د دې ښار دودانید وله وخته څخه تر (۹۰) کلوزیات کلونه، نه وو تیر شوی، خو په دغی لنډه موده کښې داتازونی له خورا ستر وښارونو څخه ګڼل کیده.

وروسته له هغه چه دامریکا خلك دخپلواکۍ او استقلال دپاره به جګړو او منازعو کښې کامیاب او بریالی شول نوئې د فیلادلفی ښار دهغه دمرکزیت په لحاظ دخپل هیواد پایتخت وټاکه، او ترلسو کالو پوری دامریکی دمتحدو ولایاتو دحکومت مرکزؤ، په دې وخت کښې ددولتی ماڼیو جوړیدل دواشنګټن په ښار کښې تکمیل

اوپای ته ورسیدل نوپایتخت له فیلادلفی څخه واشنګټن ته نقل شو. د امریکی دخورا مشهورو کسانو له جملی څخه چه دفیلادلفی له ښار څخه ئی سرو نه راپورته کړی دی یو بنیامین فرانګلین دی چه دامریکی له پوهانو او مخترعینو اولوړو سیاستمدارانو څخه ګڼل کیږی، نوموړی عالم لومړی ځل په امریکا دخپلی زیږیدنی په ښار فیلادلفی کښی دعمومی قرائت سیستم او د ورښودنی سازمان تشکیل اوتاسیس کړل. او (امریکی فلسفی انجمن) چه نن ورځ دامریکی دمملکت دفرهنګی مؤسسو یوخورا مهم جز دی ددغه شخص له یادګارونو څخه دی.

دامریکا له استقلاله څخه وروسته دفیلادلفی ښار دنوموړی مملکت دثقل مرکزؤ، اودامریکا مهمی اقتصادی چاری لکه مالی اوسیاسی چاری په هغه ځای کښی انجام کیدی، خو تقریبا سل کاله را وروسته موده کښی ئی دا اهمیت له لاسه ورکړی او دواشنګټن او دنیویارک دښارونو په برخه شوی دی.

نن ورځ دفیلادلفی ښار دامریکی دریم ستر ښار او مهم صنعتی مرکز دی. دهغه ځای مهم صنعتی تولیدات پولاد، منسوجات رادیو اولکوموتپونه دی. او په همدغه شان دفیلادلفی ښار د امریکی دبیړیو جوړولو یو مهم مرکز دی ترنیمائی زیات دامریکا دجراحی آلات او اسباب په دغه ښار کښی جوړیږی.

ښاغلی سعید افغانی

دنجم المدارس نه

دانسان مرفه حیات

دانسان په خلقت کښی قدرت عجائب استعداد و نه پیدا کړی. دانسان دپاره دامکان دروازه وازه ده دنه کیدلو وسواس ښه نه دی. که معقول اساس ونیول شی مشکلات حل کیږی موانع چه پورته شی امید و ته په کیدلو کښی ارومرو خپل ځان ښیی. دا نه وایم چه دنه کیدلو مواضع قطعاً نشته زما مقصد دادی په هغه فضاء کښی چه دانسان دپاره دژوند موقع ورکړل شوی هلته هرڅه د کیدلو صورت لری. په بل عبارت سماوی صحیحی معقولی موثوقی ښودنی چه دکوم ګار او فکر دنه ګولو دپار دی هغه د حکمت نه خالی نه دی (امنا وسلما) منو ئی مګر پرته ددینه چه دکوم کار خیال راځی صرف دوسائلو دنه تکمیل په وجه دهستی رنګ نه شی ښودلی خیال کوم دنن او پرون او یاد سبا په داسی بیرته پاته کیدو دانسان نامعقوله روزنه ستر موجب دی او دخپل لاس څخه دموانعو پیدا کول هم غټ دخل لری. انسان چه موړ شی اکثر مستریح ګیږی او چه بیاوزی وی سر ګردان او بی چاره شی او ځینی بیا لانور هم د بدبختی وسایل برابروی داز مونبره استراحت هم بدبختی ده او په ژوند کښی دمرګ معنی بی ځایه استراحت دی بی چاره خلك چه داساسی علاج غم نه خوری داسی بی چاره ګان دی چه دمرګ

انتظار و باسی . زما داعقیده
ده چه د انسان مرفه حیات له
امله حیاتی معقوله روزنه او کار
کول دواړه باید په یوه اندازه
برابر مساوی مخ په وړاندی
لاړ شی روزنه او کار دی
باید مثلا لس مساوی په لسووی
داهم ده چه باید هغه روزنه او کار
دی معلوم شی چه د لته د خلکو
په در د درجه په درجه وخوری
ددی دپاره دی د وطن ټول
معقول او مقتدر خلک ښه دقت
او تعمق، او وسایل برابر، موانع دی
پورته، او فضاء دی مساعده
کړی . هغه هر څه لری عقل
نه لری دغه هیڅ نه لری عقل
لری دادواړه چه په یوه لاره
نه ځی د دې موجت څه دی؟
دامریض دی او هر څه هم لری
ډاکتر او دواوی د خوراك
د څکلو او اغوستلو ټول
وسایل ورته برابر دی مګر
مرفه حیات ئی ځکه په نصیب
نه دی چه ناجوړ دی دا بل جوړ دی
لکن په تن لوڅ په نس وږی
بی چاره او بی اقتداره غریب
څه وکړی؟ دمرفه حیات اندازه
څومره ده؟ مال او دولت
یا اقتدار او قدرت او که نه علم
او پوه او یا داټول چه سره
یو ځای شی مرفه حیات تری
جوړیږی؟ راځی چه په لوړه
ودریږو او دخلکو حال وګورو
چه خلك څه کوی؟ او بیا دځان
دځان سره فکر وکړو چه دخلکو
دمرفه حیات د پاره اساسی
چاره څه ده؟ وائی چیرته وړندو
مصلحت کړی ؤ چه: راځی
دپیل سیل کوو داځکه چه خلك
دپیل په متعلق خبری کوی
خلک وائی پیل ډیر بروړی
او خاوندی ئی ورته دوښو په
ځای مالیدی ورکوی نو راځی
چه پیل وګورو ړانده روان
شول او په خپل جست او خیز او
عقل زیات مغرور ؤ مقصد پیل ته
راغلل او پیل ئی په لاسونو چاښکته
او چا پورته مسه کړ بیرته چه
لاړل یوه هم پیل ونه لید او نه ئې
پوره معلوم کړ . مګر سره د دی
هم دائی کله نفس قبلوی چه
ووائې دپیل په حال ښه پوه نشوو،
راځې چه د کوم بینا په ښودنی
عمل وکړو ړندو هر یوه د پیل په
متعلق ځان فیلسوف شمېره هغه
ړوند چه دپیل په پښو ئې لاس وهلی ؤ
وائی پیل کلك جګ دی دا بل
چه دپیل په خلتم ئی لاس لږ یدلی ؤ
وائې پیل نرم او پړسیدلی شانی
شی دی. هر یو د پیل په متعلق
دهیڅ معلوماتو په حساب توضیحات
ورکړل او په خپلی نظر ئې محکم
ولاړ هم ؤ.
مونږ هم دمرفه حیات په متعلق
د ړندو د ډلی به شانی یو، هو
مونږ دمرفه حیات د پیژندلو
خیال لرو مګر په دی نه پوهیږو
چه دمرفه حیات پیژندل دا دعقل
کار دی، نه دستر کو دمرفه حیات
په وسائلو کښی اندازه راته نه ده
معلومه دزړه ناجوړ ته دستر کو
دواور کوو که ووایم چه مرفه
حیات د معقول حرکت او قلبی
اطمینان په واسطه حاصلیږی
او بس او په داسی خبرو کښی
څوك چورت نه وهی او که بیا پری
پوه شی نو ددی دپاره خود کار
خلك ضروری دی چه قدرت او
اقتدار هم ورسره وی مونږ به
څه چاره وکړو؟ اضطراب او
پریشانی او لالهندی د خلکو په
ټولو طبقاتو کښی سواد لیونو او
وړونه دومره زیاته ښکاری چه دمرفه
حیات دپاره مصداق نه پیدا کیږی.

هو لیو نی او واړه خو مستثنی دی.

د قران پاك دا ایه کریمه (الا بذکر الله تطمئن القلوب) ترجمه باخبر اوسیږی ءچه دالله پاك په یادسره زړونه اطمینان او قراری مومی. ددی فلسفه داده کله چه وسواس او خطری د کار کولو دپاره له مینځه پورته اود کامیابی او ناکامی په دواړو مواقعو کښی الله (ج) ملحوظ نظرونیول شی شك نشته چه په داسی ستایلې مرحله کښی حقیقی اطمینان اودزړه قوت پیدا کیږی چه په دی وسیله سره واقعاً مرفه حیات په نصیب گرځی. دلته باید په دی فلسفه کښی ښه عمیق شو چه انسان اودنیا اومافیها چا پیدا کړی؟ دڅه دپاره؟ دانسان تکالیف څه دی؟ ددې نه وروسته به په دی پوه شو چه مونږ دضروری علم اودښه کار او عمل مسئولیت لرو، نه دارو مرو کامیابی.

کامیابی باید اخرنی هدف نه وی کوم چه انسان دعدم توصل په صورت سره خپل ځان فلج وگرځوی. دانسان دمرفه حیات دپاره که خلك د دنیا دمترقی دولتونو ټول جست اوخیز دترقی معراج گڼی غلطه ده او دا ځکه چه دانسان مرفه حیات دا نه دی چه دا توم او هدر و جن د بمونو دخاوندانو په نصیب شوی ځکه چه دی قدرت لانوری هم دانسان دپاره خطری پیدا کړی داهم مرفه حیات نه دی چه واړه ممالك دی کور کورانه تقلیدو نه د ترقی منزل گڼی دیته هم مرفه حیات نه وایم چه انسان دی په خپل ژوند کښی دحیاتی احتیاجاتو دپورته کولو دپاره دپوره کار کولو وسایل نه برابروی لاس ترزنې ذی ناست وی دمرگ انتظار دې باسی. راځی ءمونږ د خپلو بیرته پاته کیدلو رشتیانی تشخیص وکړو اوبیائې د دواچاره. هو دانسان دمرفه حات سلسله د همدغه ځای نه شروع کیږی اوبس.

زه په دغه وخت کښی دځانه سره وایم چه څوك دتشخیص کار کوی؟

دچا وظیفه ده؟ څوك زیات مسئولیت لری؟ تشخیص دپاره ماغزه څنگه ماغزه په کار دی؟ خیرزه به څه ووایم سیل بین دنښی مینځ ولی اوس خو زما وظیفه دعا او خیر خیر خیر غوښتنه ده اوبس خدای پاك دی وسایل برابر کړی چه زمونږ ټول افغانستان دمرفه حیات خاوندان شی داسی مرفه حیات چه دالله پاك درضاء موجب هم وگرځی

امین

ښاغلی عبد الصمد «ازهر»

چوپه چوپیا

تپه تیاره وه، دورغومی (جدی) دمیاشتې سره شپه وه مگر آسمان شین ؤ، ستورو په داسې حال کښې چه په نڅا بوخت وو ماته ستر گك واهه او په هغې تیارې کښې چه بل شی سم نه ښکارېده زما نظرئی ځانته جلب کړی و، زیات تر نورو دقطب ستوری ډېر روڼ په نظر راته، چوپه، چوپیا وه... یواځې دواټ په څنده روان وم اوله آسمان سره په راز او نیاز بوخت وم، ډېر وخت وگرځېدم ځان می ستړی کړ خو بې له څوکسو نه مې هلته په هغه وخت کښې څوك ونه لیدل.

آسمان مې کوت... ناڅا په متوجه شوم چه ستوری له ځایه

(پاته ۲۷ مخ کښې)

بېځایه شوی دی هغو هم زیات سفر کړی دی او پخوانی ځای ئې بل ستوری ته ور کړی دی خو... یو ستوری پخپل حال ښکاری- داهغه د قطب ستوری دی.

له ځان سره مې وویل دا ټول ستوری مخ په لوېدو (غروب) روان دی خو یواځی... هو! یواځی دقطب ستوری پخپل حال پاته دی او ټینګار ئې له لاسه نه دی ور کړی.

. . . . . .

دا نو ولی؟

دا ټول ستوری که همداسی وو، دلو ېدو خطر به ئې نه ؤ، دالوړ والی له ثباته دی.

په همدې فکر کښې وم، سپوږمۍ مې ولیده چه دغره له شانه را اوچته شوه خو ډېره نرۍ شوې وه، او دا ځکه چه هره شپه ګرځېده اولوېده، ثبات او ټینګار ئې نه درلود، دې حال پرې تاثیر کړی او هغه ئې او به کړی ده داده ډېره نرۍ شوې ده

مګر د ټینګار خاوند دقطب ستوری هر وخت پخپل حال روڼ پاته دی او په تو رو شپو کښې انسانانو ته لارهم ښیی. څومره به ښه ؤ که ټول دغسې وای.

ددې حقیقت څر ګند و لو را ته زښته زیا ته خوشالی پیدا کړه، ومې غوښته چه نور هم پرې خبر کړم.

چیغه مې کړه، ناری مې ووهلې او دا حقیقت مې په ژبه ؤ؛ څو ځلی مې اخوادې خوامنډې کړې او چیغې مې و وهلې خو هېچا زما او ازوانه ورېد، یواځی ځو کسو چه را ته ښکاری هغوی هم لیوال او په هغه واټ روان وو راته و کتل او بس، مګر بل هېڅوله کوره راونه وتل او زما چیغو ته ئې غوږ کښېنښود.

ناڅا په متوجه شوم چه یخ زیات شدت کړی دی او نژدې دی چه وچ مې کړی، پوه شوم چه نور خلك هم دیخ له ډاره نه را ووځی او زه...

په داسی حال کښې چه دقطب ستوری ته مې کتل د کور په خوا روان شوم. هغه وخت چه غوښته مې په وره ننوځم پښه مې دوره په چو کاټ ولګېده ستر ګی مې پرانستلې، کتل می چه تر اوسه و یده وم او اوس می پښه دصندلۍ په پښه لګېدلی او ویښ شوی یم.

«پای»

د «بو ګوسلاویا» له جریدی څخه

دحبیب الله «حبیب» ترجمه

مرور او پخلا

یوه ډېره ښه ښکلی او ښایسته ښځه چه دخپل میړه د ګذاری څخه زښته زیاته په تنګ شوی وه جج ته ور غله او خپل شکایت ئې په لاندی ډول شروع کړ:

ښځی- جج صاحب! ته انصاف و کړه زما په میړه کښی دسړیتوب او انسانیت یو بڅری هم نشته عیناً حیوان دی. ددو کالو لپاره ئې زه تحقیر کړی یمه څووارهمی داعزم و کړ چه ځان سیند ته وا چوم او که دی همدارنګه رویی ته دوام ور کړی زه هرومرو خپل ژوند ته خاتمه ور کوم او ځان و ژنم.

جج - پداسی حال کښی چه جزایی مکتو بونه ئې و مخ ته پرمیز باندی پراته وه، پور ته کښته لر او بر کول ئې سوال ئې و کړ آیا تاو هی؟

ښځی - په صاحبه مانه وهی خودده حماقت تردی اندازی پوری ماځوروی چه کومه ښځه چه هره ورځ دمیړه له لاسه وهل او ټکول خوری هم ترما زیات

ژوند ور باندی تریخ نه دی دده
په زړه کښی دښه والی آثار
نشته که داسی ووایم چه دی
زما سره مینه نه لری مینه هم لری
حتی تردی اندازی پوری چه
بی له ما څخه ژوند هم نشی کولای
خو بیا هم زه ډیره ځنی په عذاب
شوی یمه .

جج - که ته رښتیا وائی
نو یو څو عملی مثالونه ووایه ؟
هو! مگر په یادئی اره چه حقیقت
ووایی هر سړی ته ښایی چه
دوینا په وخت کښی در واغ ونه
وایی .

ښځی - هو صاحبه پوره دا
دوه کاله کیږی چه ما دده
سره په گډ ژوند پیل کړی دی
او په دغو مره موده کښی می ښه
گذاره کړیده په پای کښی
دغی ښی گذاری زما خوږ ژوند
وداسی روځی ته ورساوه چه
اوس زه دخپل ژوند هره شیبه
لکه دز هرو ډکی پیالی چشل
گنم او دونه سخته را باندی
تیریږی ، اوس که تاسو زما
سره مرسته ونکړیء نو په ډیرو
لږو او نږدو روځو کښی به زه
ضایع شمه او دخپل څوور ځنی
خوږ ژوند څخه به ستر گی پټی
کړم .

جج - ستا په شکایاتو وپوهیدم
او داراته ثابته شوه چه ډیره په
عذابه شوې ئې اوس ددغو عذابونو
دعواملو یو څو مثالونه ووایه
یعنی هغه عوامل ذکر کړه چه
ته ئې دونه په عذابه کړې ئې.

ښځی - صاحبه ! مثالونه
ډیر دی آیا زما دغه یو اځی
وینا کفایت نه کوی ؟

جج - یه!

ښځی - چه یه نوواوره مونږ
یو ډیره ښه قیمتی هنداره در لوده
او هغه می دده له لاسه ماته کړه.

جج - څرنگه ؟

ښځی - داخو دده عادت دی
چه زه هر څه ورته وایم زما پر
وینا غوږ نه نیسی چپ ناست وی
او په خپلو کتابونو بوخت وی
دهمدغه وضیعت په اثر ماته هم
درد راغی او دی می په هغه هنداره
چه ده ته نږدی پرته وه وویشت
ځکه هینداره ماته شوله زمونږ
دښوشیانو څخه یو اځی دغه هنداره
په کور کښی موجود ده او هغه هم
ماته شوله ځکه زه ډیره خپه
شومه او ومی ژړل .

جج - ښه ستا داحرکت پرده
باندی څه تاثیر وکړ ؟

ښځی - هیچ کوم تاثیر ئې
ونکړه او هیڅ عکس العمل ئی و نښود
بیله چپتیا ،

جج - چپتیا ؟ ؟

ښځی - هو صاحبه چپتیا .

جج - پداسی حال کښی
چه پر چوکۍ باندی لږ څه
وښوریده او خبرو ته ئی ډیره
ښه توجه وکړه ښځی په هماغه
ډول خپلو وینا ؤ ته ادامه ور کړه.
هو صاحبه زه چه هر څه ووایم
او حتی ښکنځل ورته وکړم پرده
باندی کوم تاثیر نه کوی او څه
نه وائی زه پرده ډیره گرانه
یمه خو زه .....

دی زما دداسی حرکاتو په
مقابل کښی چپ کښینی او لکه
یو بیځانه شی هیچ نه وائی او نه
ئی کوی .

جج - ډیره ښه ده تاته هم
دهغه پشان چپتیا ښایی .

ښځی - هو ما به هم چپتیا
غوره کړی وای که می دده
پشان کوم حس نه درلودلای
مگر افسوس چه زه زړه لرم
حس لرم ، پوهیږم او تمیز کوم

نوځکه دغه عوامل می په کراره
نه پریږدی .

جج ـ ښه اوس نو دا راته
ووایه چه په دومره موده کښی
چه ستاسو له واده څخه تیره شوی ده
تا ته د خپل ژوند دښه کیدو
په باره کښی څه ویلی دی او څه
فرمایشونه دی ورکړی دی ؟؟

ښځه ـ دی تمامه ورځ په
کور کښی ناست وی که ورته وایم
چه هغو مره پیسی خو و گټه چه
زمونږ څه ناڅه اړتیاوی (که څه
هم د نورو سره هیڅ مقایسه کیدای
نشی) رفع شی راته وایی په هغه
اندازه چه کار کوم پیسی گټم
تر دی زیات نه زه کار کوم او نه
پیسی پیدا کولای شم . بیا ورته
وایم ښه چه کار دی دغو مره
ارزش لری نو ولی لکه د نورو
میړو پشان د باندنیو ممالکو ته
نه ځی او فعالیت نه کوی چه
د کار ارزش دی ډیر شی

هوا زه وینم چه دده ملګری
د باندنیو ممالکو ته ولاړل د کار
او فعالیت له درکه ئې ښې پیسی
و گټلی ښه ښه شیان ئې راوړل
او د خپل کور او کهول لپاره ئې
ښه د قدر وړ خدمتونه و کړل
خودی تمامه ورځ په کور کښی
ناست دی ډیری پیسی نه گټی
د باندی د تفریح او ساعت تیری
لپاره نه ځی دده کار لوستل او
لیکل دی کنفرانسو نو نه ځی
او بس . زه چه هر وخت د باندی
ځمه خراپ کالی می په ځان
کښی وی او خلك می وینی ډیره
شرمیږم خو څه می هم له لاسه نه ده
پوره دی وائی زما وظیفه
د خارج تللو سره کومه اړه نلری
چه لاړ شم . زه وایم که داسی
نه وی نو هماغسی یو کار ولټوه
صاحب !! او ما د دغه غم څخه
وژغوره .

جج ـ دغه ؤ ستا شکایت ؟

ښځه ـ داسی ډیر نور شیان هم
شته لکه چه ها بله ورځ مو
و غو ښتل چه سینما ته لاړ شو
دی هم راسره وو کله چه هلته
ورسیدو ده چالاکی ونکړه او
ځان ئې د تکس خرڅولو وکړ کی ته
و نه رساوه هغه وخت هلته ورسیدی
چه تکسونه خلاص شوی ؤ زما
طبیعت ډیر خراب شو بیا نو ده
وو یل راشه ورك ئې کړه چه
قدم ووهو .

جج ـ یداسی حال کښی چه
د پنسل په تیره څوکه سره ئې د بوی
سپینی صفحی پر مخ باندی
لیکی کښلی وویل « اوس زه
و پوهیدم چه ستا ټول شکایات
له کومی لاری څخه دی او هم
باید دا ووایم چه تا قانوناً دا حق
نه درلود چه په هنداره دی
وواهه او ... »

ښځه ـ د جج خبری قطع
کوی او وایی « ښه شوه یوه بله
می هم په یاد راغله دی د یاداشت
یوه کتابچه لری هر څه چه زه
وایم دی هغه هلته لیکی حتی
هغه ښکنځل او بد هم لیکی
په داسی دقت سره لکه چه ریکارد
کوم زغ ثبتوی د اعادت هم لری
کله چه ما پریشانه وینی نو ما ته
نژدی کیږی زما وینښتان چه
د پریشانی له لاسه خواره واره
شوی وی هغه د تسلیت په گوتو
ټولوی او د زړه ډاډرا کوی وایی
ای مینی ! ته خود یوه قوی زړه
او لوی روح خاونده ئې نو هر
څوك چه د دغو شیانو خاوندوی
گواکی د ثروت او شتو خاوند
هم کیدای شی . »

جج ـ ښه بیا نو ته څه کوی ؟؟

ښځه ـ څه وکړم صاحبه زما زړه

په داسی خبری نه ډاډه کېږی او نه خطا وزی (په داسی حال کښی چه په خپلو گوتو سره دخپل مېړه وخوانه چه پرچوکۍ ناست دی او لیکل کوی اشاره کوی) و گوریء صاحبه دی په دغه حال کښې هم له لیکلو څخه نه دی خلاص همدارنګه هر وخت چه زه دده څخه ښه کالی او یا نور دښکلا شیان غواړم. دی چپ ناست دی او خپل لیکل کوی یعنی زما و خبری ته هېڅ غوږ نه نیسی.

جج صاحب!! زه بیا دا تکراره رم چه دی زما روح مړاوی کوی، زما زړه وژنی تر کومه وخته به چپ وی؟ څیړنی به کوی؟ او کنفرانسونه به جوړ وی؟ جانه! واده کول خو کنفرانس جوړول نه دی! (بیا مخ ومېړه ته گر ځوی او په ډیر شدت سره وائی) ته ما تباه کوی! ته جلا دئې! ته جلا دئې! ته ډیر تیټ سړی ئې! ته.... (په دغه وخت کښې پر هغه چپ مېړه دا خبری د تا لندی په شان اثر اچوی له ځایه پاڅېږی او جج ته وایی) صاحبه و گوره داما ته په کومه اندازه بدی خبری کوی ما و بدو کارونو ته دعوت کوی زه چه ئې نه قبلوم او ددې په غوښتنه سره سم کارونه نه کوم نو دا ښکنځل را ته کوی زه هم څه نه وایم ما و دې ته اجازه ور کړه چه هر څه چه غواړی هغه ووایی دا ځکه چه په دغو ویلو سره ددی خپګان لږ شی زه په دی فکر کښې وم چه دا به یو وخت اصلاح شی لیکن اصلاح نشوه ما ددې په مقابل کښې د ډیری مهربانۍ او عطوفت څخه کار اخیستی دی خو داو نه پوهیده تر دی حده چه زه ئې مجبور کړم چه باید ووایم.

دا کله هغه ښځه ده چه پخپلو تقاضاو ارزی، دا ډیره بد گذرانه ښځه ده زما د کور کارونو ته هېڅ نه ده متوجه او پا ملړ نه نه کوی هر وخت ما ځو روی او د لوړو شیانو په درلو د لوئې خپل خوږ ژوند تریخ کړی دی دا دغه آرام ژوند نه خوښوی او هېڅ وخت ما په کراره نه پرېږدی حتی چه د شپې مې خوب ته هم نه پرېږدی د مثال په توگه که زه ددې د خوب د بستر سره یو تیپ ریکارد ر کښېږدم او ددی د سا کښلو هغه (خورهار پورهار) تیپ کړم چه په خوب کښې ددې عادت دی نو به تاسو هله پر ما باندی ورحمیږیء او بیا به ووایاست چه زه تر کومی اندازې پوری ددې په مقابل کښې صبر کوم او خاطر ئې گران بولم. (بیا مخ د ماینی وخواته اړوی)

گرانه!

هر څوك نشی کولای چه ښکلا ولری لږ څه تعمق او فکر وکړه ستا ددو مری ربړ په مقابل کښې یو اځی زما انصاف کفایت نه کوی او زما حوصله وتا ته نه ده ښه؟؟

دا خبری چه ښځه اوری پس له تعمق څخه دمېړه دهری خبری سره چه له خولی څخه ئې راوځی ددې په بڼه کښی دملامتیا نښی ډېر ېږي تر دی اندازې چه یو وار دښځی توان ور کېږی او دمېړه وخوا ته ځان رسوی، خبری ئې قطع کوی او په ډیر عجز سره داسی وایی:

مهربانه!

زه ستا څخه ډیره عفو غواړم ما و بخښه ستا د ډیر تکلیف سبب شوی یم ما تر اوسه دا فکر کاوه چه ته ما ځو روې (پاتی په ۳۲ مخ کی)

پېغله فوزیه دملالې دلیسې دنهم صنف زده کوونکې

د سهار نغمه

سهار شو-لمر خپلې روښانه پلوشې پر ټولو شیانو وځلولې
بلبلې د ګل د طراوت په هوس ګلزار ته راغلې او د نوی
ژوند نغمې وائي

کوچیان د غرونو د سرونو
څخه را وباڅیدل او د حرکت
په زمزمو یو هېدل د کاروان
د زغبزغې شرنګې شو-دا
زغ دحال په ژبه وائي:
پاڅیء! پاڅیء!
هو! د کاروان د زغبزغو
اواز را رسېږي دا زغ وائي
«پاڅي پاڅيء!» دادي زه دهوا
دامواجو سره ګډه شوم
او ځم-ځم-ووتم
پاڅيء! پاڅيء! وخت تیر ېږي.
سهار دي ژرشيء وخت تیر ېږي
کاروان ځي او قافلې روانې
دي
(پاڅيء!)
اي د ژوند څخه ستړي او
مایوسه پاڅه وخت تیر ېږي
مه تېره وه وخت-سهار دي
او ستا زیار، کوښښ، حرکت او
کار نه ضرورت لري
و ګوريء! هغه دي شپانه
هم دخپلو رموسره ځي
د شپېلۍ آواز اوريء!!
«پاڅيء، پاڅيء»
سهار دي ټول روان دي
او د کار پرخوا تاسي هم پاڅيء!
ورونو!
اي پښتنو ورونو؟!

مې ګلګون، ساغر ګلګون، ښیښه ګلګونه
ساقي ګل، حریفان واره ګل نګار ګل

عبدالقادر خټک

په غلا وکتل

تا چه مې خوا ته په خندا وکتل — ما مې ژوندون ته په سودا وکتل
حرم دزړه مې لاله زار کړو مېنې — یار چه یو پړک لکه برېښنا وکتل
اوس اشنائي کښې سودائي ګرزمه — چه نا اشنا را ته اشنا وکتل
اوس زړه داغلي، علي غلي ګرزم — چه یار مسکي را ته په غلا وکتل
صبر سکوت شو طوفاني راڅخه — ځکه مې تا ته وار خطا وکتل

دمحبت په قانون پرشوي وایه
«سېلابه ولي دي رسوا وکتل

بناغلی سعی

دخوایو ته رو خو خخه

دهوس او نخاموسم ته.

شکوفه په باغ او راغ شود بهار کل

هم په بام هم په کوڅه هم په دیوار کل

عبدالقادر ننګ

پسرلی ته هر کلی

شپه لنډیږی روح او زدیږی.

او ریځی او او واره ورو ورو

سره لیږی کیږی پر آسمان

شنې شنې لاری څر کند یږی.

رونړاوی او وړانګی ځلیږی.

پرزمانه او کائناتو دمسا او خندا

او خوښی وخوشحالی روحی

راځی هر شی مستی خوښی

هوس نه ورنزدې کیږی دځوانی

عمر پر راځی.

سپیدو دسهار دروښانه او سپینو

مرغلرو اوزی او امیل په غاړه کړی

او ماښام خپل عاشقانه سیوری

اچولی شپه تیاره کیږی، او ستوری

یوه نامعلوم اوغلی شانته سهمنا که

آواز (دبقاء آواز) نه چه دلا نهایت

په بی سرؤ سامانه دښتو نو

او بیابانونو کښی ئې از انګه

اوزوز اچولی غوږ نیولی دی.

داستاد رانګ نخښی نه دی

آپسرلیه؟!

دو بالی پر غاړه ښا خو نه

دخوښی اوهوس لوبی او نازو

عشوې سره کوی. دو نو غوړشکی

دبن اوباغ پر صفحه دپسرلی

سندری سره وائی په ژوو کښی

دنشاط عواملو ینی پر حرکت

راوستلی او په رګونو او شرائینو

کښی ئی پورته و کښته کیږی.

په نباتاتو کښی دنشو و نما قوه

ژوندی شوی هر شین دو کی

او وانښه خپله ښکلا او رونړا را

پورته کړی سرله سره ئی نوی

او تازه ژوند را اخیستی دی

دبوی داسی تودی مینی او محبت

روښانه پلوشې او شغلی وهی چه

نشو نما او وده یکښی موجوده ده.

داستاد رانګ خاصیت نه دی

آپسرلیه؟!

* * *

دا حمل دی پنګې یکښی

پرانځی غوټی یکښی غوړیږی

شکوفې یکښی خلاصیږی. دنور

روښانه تنده او ورین ؤ رون

تندی، جوزاد ګلاب او نو رو

ښکلو ګلانو اوزره ورو نکو

وزمویار او ملګری، د یاسمن

اوزنبق اشنای د استا میاشتی

ندی آپسرلیه!

* * *

زلمی انتظار درته کوی چه دخپلی

ځوانی او زلمیتوب څخه خوند

واخلی پیغله دې د رانګ په

انتظار ده چه ښکلائی روښانه

اوستا ګلان په ګرېوان کښی

ووهی

زوړ د ر ته منتظر دی چه

د ۳۰ مخ پاتی

چه ته ما ځوروی او په دې نپوهیدم

چه ته زما څخه ډیر ځور یدلې ئې

(په دې وخت کښې ئی دپښیمانی

او ښکلی هم په ستر ګو کی

ګرزی بیا وایې)

راشه! هغه بدی خبری چه

ماناته کړی دی له یادو با سو

او داسی فرض کړو چه بیانوی سره

واده شوی یو. (بیالاس دمیړه په

غاړه کښې اچوی یو دبل ستر ګو

ته ځیر کیږی او د پخلا توب

پیغا مونه یو و بل ته وایې بیا

دواړه مسکی کیږی) جج هم دغه

فیصله خوښوی او ددوی دنیکمرغی

ژوند ته دوعا کوی. (پای)

دخپل قوت خوند پوره واخلی بوډادې لار گوری چه دځوانۍ حرارت یوه پلا بیاور په یاد کړی.

پاشلی تخمونه درته گوری چه وده وکړی، شگوفه درته گوری چه وغوړیږی کر کنډه درته گوری چه زړه ئی پوست اونرم شی شنه واښه پرپیدا شی، مرغان درته منتظر دی چه په فضا کښی خوشحالی وکړی. ونی انتظار درته کوی چه پاڼی اوسیوری وکړی او مرغان ځالې پکښی جوړی کړی. شنه کښتونه درته گوری چه ستا دگټو رو بارانو څخه استفاده وکړی پرحاصل راشی پر مځکه پراخی او ارزانی جوړه شی، لمر درته منتظر دی چه دافق پرقصر له پردو څخه لڅ مخ اوبرمنډ په خیال خیال روان شی، شمسی نظام په لیوالی انتظار درته کوی چه د آسمانی کائناتو په ژوند کښی نظام راشی.

دادی ته راغلې آپرو عده ولاړ اوتینگه پسرلیه!

* * *

رودخانی درته گوری چه داسد اوسرطان دتو دوخۍ او او وچوبی له امله وچی شونډی (دوې څنډی) ئې ورلنډې کړی یوه پلا بیا غاړی غاړی ډک وبهیږی، او په میانځ کښی کثافتونه اوبې ځایه بندونه، قیدونه، شرایط، امتیازات چه داوبو طبیعی جریان ویجاړه وی وغور ځوی اودبهیدلو سطحه یوشانته اوبورنگه کړی، پورته او کښته، لوړی وژوری هواری کاندی.

نوته به ددې ټولو منتظر ینو په دردو خورې آپسر لیه؟!

* * *

ته پسرلی ئې اومونږ دی هم پسرلی بولو، چه نه وی راغلی تابه هم مونږ ته ویل چه زه پسرلی یم او پرتاسی درځم. تابه ویل زه پسرلی یم جمود او انجماد سره خلاصوم، بند و سره ورغلی مواد سره پرانیزم، له ژوند او آزاد ژونده څخه محروم کائنات بیرته ژوندی کوم او آزادئی روزم وده ور کوم دنشونما قوت ئی ور زیاته وم نو آیا ته به داخپلی وعدی پوره کړی آپسر لیه؟!

* * *

پسرلیه! ستا خو وعده ده چه ته به زمونږ سره هره مرسته کوی، روح ته به مو نشاط بدن ته به موطاقت او قوت، دماغ ته به موتعطر اوفرحت او هرڅه ته به موڅه او څه څه را کوی، اوموږ هم د انتظار سترگی درته نیولی دی نو که دودانۍ پسرلی شوی خو ښه او که نه وی توبه دمنی ساړه بادونه اودژمی سپینی واوری درته ویل کیږی.

نو سوړ منی یا سورژمی مه کیږه آپسر لیه!!!

ښاغلی سیفی

دخان عبدالصمد خان

محاکمه ٦ برخه

اوداځکه چه دغه راز خلك دغرض خاوندان دخپلو گټو دپاره استعمالولی شی، دپاکستان عوام دجرگې دهغو معاش خورو ممبرانو په جعلی بیانونو خوشحالولی شی چه په دغو بیانونو کښی دوی په جگو اوازونو ځای ځای دپاکستان دوفادارۍ چیغی وهی او دپاکستان دسعادت دپاره دهر ډول فداکارۍ اعلانونه کوی اودا کارونه بواځی په داسی وختونو کښی چه دوی ته کوی

پاتی په ۳٤ مخ کښی

د۲۳مخ پاتی

کوم یو پو لټیکل افسر کوم هدایت ور کړی او یا کومه بله مناسبه موقع پیدا شی او که فرضاً دغه ټول تظاهرات او اعلانونه صحیح وی او دپښتنو په ټولو سرحدو او علاقو کښی آرام او کراری وی نو بیا زمونږ په دې سرحدونو او لیارو سړکونو او عسکری قشلو او چوڼو او تاڼو باندی داحملې او بریدونه څوك کوی او ولې ئې کوی، آیا داخبره امکان لری چه دپېښور او کویټې غوندی ښارونو کښی بمونه وچولې شي، که دوزیرو مسعودو ملکان او دقبائلو خلك رښتیاوائی او لکه چه دوی څو ورځی پخوا د مسټر سهراوردی په مخکښی دا اقرار هم کړی و، نو بیا دغه بدمعاشان څوك وو چه څو هفتی وړاندی ئې دبنو پخوا کښی په یوه تاڼه بمونه واچول او ډېر پاکستانیان ئې ژوبل کړل، هغوی له کومه شول او دې ځای ته څنګه را ورسېدل. دپاکستان په اسمبلې کښی دد ېر نمایندګان ولی نشته او دقبائلو نور نمایندګان او خاص دمومندو نمایندګان څنګه انتخاب شول دا دغه راز نور ډېر مشکلات دی چه مونږ دهغو سره مخامخ یو او باید فی الحال ددوی علاج وکړی شی، له دې خبرو څخه ستر ګی پټول ددې مشکلاتو پوره حل نشی کېدلی او نه ددې مشکلاتو دحل داعلاج دی چه څوك خوله وخوروی هغه دغدار په نوم یادشی او په بندی خانه کښی واچولی شی که څه هم هغه دپاکستان دجمهوری اسلامی حکومت خیر خواه او دپاکستان په ترقی مین انسان وی

دپښتونستان تاریخی مطالبه:

دپښتنو مطالبات او ضروریات په دې ډول لیارو چارو نشی پوره کېدلی (پښتونولی، دپښتنو دعلاقې اتحاد او پښتو) هغه مطالبې دی چه دا مطالبې یو تاریخي حیثیت لری او ددې مطالبو تکمیل یو اځی دپښتونستان په نوم دیوې خود مختاری صوبې په تاسیس کېدلی شی او په دې ډول پښتون دآزاد جمهوریت دلوړو نعمت څخه ګټه اخیستلی شی.

پښتانه له دې کبله چه په جمهوریت مین خلك دی نو له دې کبله دوی په دغه اساس په دې جمهوریت کښی خوشالېدلی شی او په دې وسیله دوی دې ملك او پنجاب بلکه بنګال ته هم نژدې کېدلی شی، حال دا چه دوی خپل ګاونډی ملك افغانستان سره ډېر نژدې تعلقات لری، تاسی دوی دجمهوریت دنعمت څخه محرومه کوی او په دې وسیله دوی مه تنګوی ء ډېر قیمتی وخت اوس هم ضایع شویدی، دا مهمه مسئله نوره مه خنډه وی ء.

دیو یونټ جبری قیام او دمختلفو تمدنی وحدتونو په منځ کښی دې ډول غیر قدرتی چیغو ډېره بدمزګی او کرکه پیدا کړې ده او که دا غلط اقدام جاری وساتلی شی او ددې غلط اقدام دصحیح ښودلو دپاره دخلکو صادق خدمت ګاران ددروغو او جعلی تومتونو په ذریعه په بندی خانو کښی اچولی شی، نو دې ډول کارونو سره دا خطر تړلی ده چه دپښتنو دغه تحریك په یوه ورځ دپاکستان دد ښمنانو لاس ته ورشی له دې کبله دټولو هغو

جناب گل پاچا الفت د پښتو ټولنې رئیس

نژدې لس کاله کېږي چه زه د پښتو ژبې په علمي تحقیقاتو بوخت یم
د شوروي اتحاد په ځینو مجلو، همدغه رنګه د مسکو په راډیو کښې مې
د پښتو ژبې په باره کښې او هم د افغانستان د لیکوالو د اثارو په شاو خوا
څو مقالې خپرې کړې دي. سربېره پر دې ما څو فلمونه چه «د نن روځ
په شوروي اتحاد کښې» نومېږي له روسي څخه په پښتو ترجمه کړي
دي او له میکروفون څخه مې لوستلي دي. د ۱۹۵۷ کال په نیمائي
کښې به «د روسي ژبې ښوونکي» چه زه ئې په پښتو لیکم د خارجي
ژبو د نشریاتو په اداره کښې چاپ کړي شي او په رانژدې وخت کښې
به د مسکو له راډیو څخه هم د پښتو پروګرام شروع شي چه زه
به هم هلته کار وکړم. اوس نو زما د پاره د پښتو ټولنې د محترمو
غړیو او په تېره بیا ستاسې الفت صاحب نظریې او انتقاد
خورا ډېر اهمیت لري او فوق العاده ښېګڼه به راورسوي.
که تاسې امکان لرئ نو مهرباني وکړئ ما ته مکتوب ولېږئ

په ډېره مینه او احترام

نیکولای دوورېانکوف

د ژبپوهنو د علومو کاندېد

زما پته:

Moskow, Б-66, Spartakovskaja 2, MISI,
kafedra inostrannyh jazykov
(یعنی په پښتو د خارجي ژبو شعبه)
Nickolay Dvorjankov

ترڅوبه نه خوزېږی؟

قافلې ولاړې، ځینی منزل مقصود ته رسیدلی او ځینی ورنژ دی دی!

قومونه سره واؤښتل،

قیامتونه تېرشول،

دذرې زړه و سپړل شو،

طلسمونه مات شول،

په عالم باندې سبادی،

په دنیا کښی رڼاده،

یوپر تاباندې توره شپه،

داڅه چل دی؟

ستا سحرولې نه ماتیږی؟

وو ایه! بسم الله . . .

را پور ته شه !!

نورنو دخوب وخت نه دی

* * *

ولې نه پورته کېږی؟

تړل شوی خونه ئی ؟

او که دنا پوهۍ په زنځېر او دوهم په زولنو کښی بندئی؟

پوازې خونه ئی ؟

او که دنفاق او بدبینۍ توري پردې له خپل ورور څخه بېل کړې ئی؟

کورې؟ ستاستر کې چاپه ور ېښمینو دسمالونو تړلی دی؟

زرشه! دا د ستر گو پردې ابسته کړه !

د ریا نقاب وغورځوه؟

هله! ستر ګی وغړوه !

نور نو د خوب وخت نه دی

* * *

وینی؟ حرام خواره ستا په مال باندې چرچې کوی او ستا په سر باندې کشمیر ګټی .

ستا له غوښو نه کباب اوله وینو نه دې شراب جوړوی.

هغه دی هغه پولادی سیخ چه لحلیږی او ستا په شریان خښ دی.

څه دپاره؟

دې دپاره چه ستا وینه جذبه کړی!

د استا څه حال دی؟

راته بیخوده غوندې ښکاري

هله پاڅه!

زر کوه!

سبا دی!

نور نو د خوب وخت نه دی

عبدالله «بختانی»

دگاډی اس

ستر گې ئې تړلی دی، غاړه او اوږې ئې هم په تسمو او زنځیر و نو.
تړل شوی دی، په خوله کښې ئې هم قیزه ده!
لوی او دروند پېټی کشوی او په پټو ستر گو ځغلی!
پخپله ئې اراده نشته، خبر نه دی چه چېرته او څه دپاره ځی ؟
خودسبانه تربېگا پورې هی منډې وهی!
گاډیوان ئې یوډېر بېرحمه او حریص انسان دی!
په باد او باران، په سخته گرمۍ او یخنۍ، په ورانو و یجاړو سر کونو،
په دښتونو او پېچومو دابې ژبې حیوان سره له ډېره باره ځغلوی.
که په دی تگ ودو کښې لږه سستی ورنه وشوه بیا دقمچینو باران و رباندې
کېږی —
پېټی ئې که دروندشی که سپک، دی دڅه ویلو خوله نه لری.
که دډېر وسورلیو زور هم ونه لری خو نه گاډیوان قانون منی او نه دپولیسانو
زړه ور باندې سوزی.
گاډیوان هر وخت خپله گټه غواړی نو ځکه اس ته کافی وابنه او ور بشی هم
نه ور کوی، دی په دې فکر کښې دی چه څنگه ډېرې پیسې و گټی او ددرې
تنو سورلیو په ځای او ه تنه په گاډۍ کښې سپاره کړی ؟
حرص دی دومره نابینا کړی دی چه دومره فکر نه کوی چه اس هم ما ل
دی او رانه به ضعیف او تلف شی.
په دې اس باندې دهېچاز ړه نه سوزی او هېڅوک څه نه وائی.
د اس شاز خمی ده، سره ښکاری، وینې تړې څاڅی.

جله کابل ۸۵۰

کاډیوان سره ددې چه په زخمو باندې ئې ملهم نه ږدی، یوه ورځ څه چه یوساعت هم ورله دمه نه ور کوی، تردې اندازې پورې چه خوشا ئی هم دځغلېدو په وخت کښې کوی.

اس په زخمی شا، وږی گېډه او نحیف بدن درانه بارونه راکاږی، پرزی، ولاړېږی او زیات کړ او تېروی.

دی نه دفریاد ژبه لری او نه دتېښتې پښې.

دا اس منډې وهی او منډې!

په بې دردۍ سره وهل کېږی.

څوچه په منډ و منډو کښې را وپرزېږی او زړه ئی وچوی.

«آه! مجبورۍ!»

عبدالله «بختانی»

ای بېوزلی مرغی....

نه‌خوپرون خوشحاله وي!

دخوشحالۍ نه‌الوتلي!

توپونه به‌دي وهل !

کله‌به دګلانو په‌څانګو او کله به‌دبېروو نو په ګڼو ښاخو نو کښې

ګرځېدلي !

داسې ترپرۍ وې ،

داسې زر زر اوچالا که چالا که ښکته پورته کېدی چه‌خلکوبه وبل :

څه‌درنه‌ورك دی،

نه‌نه! څه درنه‌ورك نه‌وه،

دژوند نهائی هدف (خوشحالۍ) ته‌رسېد لې‌وې.

تادچاپه ارمان کښې هل وځل نه کاوه،

خوښۍ کښې مستغرقه‌وې،

دخوشالۍ نڅادې کوله اودآزادۍ ترا نې دې ویلې.

* * *

نن ولې په‌خاورو کښې پرته ئې؟

خپه‌ئې که ویده ؟

دچانه خواشینې ئې که‌ستړې؟

زه وایم : نه‌به‌خپه ئې نه‌خواشینی،

نه‌به‌ویده ئې نه‌ستړې،

ځکه چه خپګان تاته لار نه درلوده ،

دخوب وخت هم نه دی،

اوخوشحالۍ سره ستومانی هم نه وی.

نوته ولې ....؟

خپلو ملګروسره نه یوځای کېږی ؟

غلې اوغم ځپلې ئې ؟

اوه!! پوه‌شوم ! ناروغه به‌ئی ناروغه!!

کومه‌غیر طبیعی حادثه ، یا ګرمۍ اویخنۍ به‌وهلی ئې.

زه‌به‌دې‌له حاله‌ځان خبر کړم اوله خاورونه به‌دې پورته کړم ....!

* * *

اوه ....!

داڅه حال‌دی؟

دابېوزلې مرغۍ خوچا ویشتلې ده!

سینه ئې‌پرهار ده،

زړه ئې بوټ وتلی‌دی،

وینې ترې څاڅی،

آه! داد کوم ظالم صیاد دټوپك ډزیادغولکې ټك‌ؤ چه ددې‌معصو مې په سینه‌لګېدلی‌دی؟؟

اوداښګلې اوښایسته مرغۍ ئې‌په‌خاورو کښې غورځولې ده؟

داهغه مرغۍ‌ده چه دګلو په‌ښاخ کښې ئې یوه ثانیه‌طاقت نه کېده، تابه ویل چه ترپښو لاندې‌ئې میږی‌دی .

اوس په‌خاورو رغړی‌اودټټرپه ټپ کښې ئې دمېږ تونومېله‌ده .

دامرغۍ ددنیا له ټولو علایقو نه آزاده وه نو ځکه ددفاع ملګری ئې هم نه ؤ
او اوس هم څوك نشته چه ورباندې وژاړی.....!

آه! څومره بېوزلې ده؟!

هو! دبېوزلو، بې دفاعو، بې ضررو او بېګناهو ځورول بوالهوسانو ته لوبې
ښکاری.

یوا ځې «شاعر» په دغسې فجیعو صحنو متأثر کېږی او اوښکې تو یوی
چه ګوندې د کوم «صاحبدل» زړپه دردراشی اوورسره وژاړی .....

عبدالله «بختانی»

نورنه ژاړم!!

آه! زړه مې پرسېدلی دی، ساه مې بنده ده !!

رقیبا نویم وهلی، ډارولی یم، تالا کړی یم.

لیانور هم راته ستر کی برندوی او منزل مقصودته مې نه پرېږدی.

دردمې ډېر دی ، ژړامې په زوره زوره ده!

هوا! زه په زوره زوره ژاړم ،

په زوره زوره ژړل زما عادت ګرځېدلی دی.

په ژړا پوخ شوی یم.

زه چه ژاړم ماته در درسېدلی دی،

نوزمابی درده یاره! پرتا باندې ولې زما ژړا بده لګیږی؟

اوراته وائې: «مه ژاړه! »

* * *

زما دزړه په زخم باندې ملهم نه زدې اوور باندې مالګی دوروې!

هوا! ته ګرم نه ئی ، ستاغوږو ته له ښو نغمو، زړه ورونکو اواز و ا و پستو خبر و سره بلد دی ،

زما د ژړا غږ دخپل عیش دورانېدو سبب بولې-

اور اته وائی : «مه ژاړه! »

* * *

غم دې نه دی لیدلی نو ځکه دغمجنو له حاله خبر نه ئی.

کله نه ئی ژړول شوی نو ځکه په او ښکو تو یو نکو ستر ګو باندی دې زړه نه سوزی.

دمینې تاودرته نه دی رسیدلی چه دمینو د آه له ګرمی نه خبر او سی،

هوا! دعشق اورلو ګی نه لری او نه ئی هیڅکله لیدی نه شی.

دغه اوردسر په ستر گونه لیدل کېږی.

بی غمی ستا سامعه هم بی حسه کړی ده، نو ځکه دژړاغږ درباندی ښه نه لګیږی اوراته وائی: «مه ژاړه»

* * *

ښه! ستا له لاسه چا ته فریادی شم؟ -- چا ته وژاړم؟

هو! ګناه زما ده، خدای به پخپله ګناه نیولی یم.

ګناه می داده چه پر تاغوندې بی درده او بی پروا باندی مې زړه بایللی دی.

هو! نو زړه لرم او دهغه ټول واک له تا سره دی

هر څه چه کوی کولی شی، زه به ستا خوښه وکړم.

ته پوهېږې او ستا کار!

زه او زما درد!

زه به «نور نه ژاړم!»

«بختانی»

اعتبارات

-۱-

زه یو وخت د داسی اشنای سره گښت ته وتلی وم دچا چه می دډېره محبته د مرګ خواست کاوه. لیکن اوس می زړه غواړی چه ژوندی وی ددې دپاره نه چه خدای ناخواسته زه ئی اوس دښمن شوی یم بلکه په دې وجه چه هغه اوس دژوند قابل گرز ېدلی دی.

غرض داچه گښت مو واهه چه نا ببره ملگری وویل:

«پر څه مصیبت پېښ شوم» ماشاو خواو کتل چه شاید پر کومه څایا کنده ورغلو. نو اشنا نور هیڅ ونه ویل او دصرعی دمریض په شان ئې دسړك بلی خواته میدان کړل او هلته یوه درې کسیز ټو لگی ته پر یوه گز مسافه ودرید. ده ویوه ته لاس پر ځیگر ونیو او بل ته ئی سرټیټ وپاس کاوه خوو دریم ته به ئی په متبسمانه انداز غاښونه سپین کړه او دهر یوه ځواب به ئی په مخصوص اندازخو کله په مر موز «هی، هی» ور کاوه. یوه ورته وویل: «خوب هستی!»

اشنا ی ور ته وویل: پرون می احمد په سینما کښی ولید. ماشاءالله څو مری شریف او فهیم انسان ؤ یقیناً ستاسو رنگه دشخصیتونو باید همدغسی اولاد هم وی

دې بل ورته وویل: «دهرات څخه کله راغلی ئی!»

اشنا: «هی، هی» والله سهار می اراده و کره چه زیارت له درشم مگر داز ما انتهائی بدبختی وه چه کامیاب نه شوم.

دریم ورته وویل: ډېر وخت کیږی چه ستا گلخانه مونه ده لید لی!

اشنا: «لطف نمودید!» تاسو به کله د کمترین دعوت پر ښوروا قبول کړی ء

درو وارو په اتفاق «په جمعه!!»

اشنا د تولو څخه په داسی حال کښی وداع و کړه چه لاسونه پر ځیګر نیولی - سر ټیټ او پاس کوه مخ د هغو پر خوا او پر شا راځه - تر هغه وخت چه تر ما راورسید.

ماورته وویل: داڅوك و،

اشنا: «یوزمونږ د علاقی حاکم - بل قاضی او دریم یو سرمایدار!» ماورته وویل: ښه! دغه وجه وه چه تا د مهذب او خود دارانه هر کلی پر ځای اکټینګ او تمثیل کاوه!

اشنا: په ډیر تیقن او فاتحانه انداز راته وویل:

وروره! دا جانداری بولی جانداری!! تر څو چه د دغه دقیق فن در موزو او نکاتو متخصص او عامل نه شی همیشه به داسی «دست بدست دیګری» او «پا بدست دیګری» ګرځی لکه چه ئی.

اشنا وویل: ستار نګه انسانانو او د چا چه په تولو کائناتو کښی تر نګاه پورته بل څه په قسمت نه وی هغه د دغه دوررس فن او د هغه په عملی افادیت څه پوهیږی.

ما په زړه کښی وویل: «چه د اصطلاحاتو او تعبیراتو په معمولی تغیر حقیقی مفهوم د کوم ځای څخه کوم ځای ته ولاړ شی - بزدلی ته مصلحت اندیشی - درواغ ویلو ته مبالغه - ذلت ته د جانداری خوبصورت او دلکشی جامی اغوستل د انسانی علم او دانش هغه بدترینی ګمراهی دی چه علاج او تاریاق ئی سواله بلند تربیت نه محض په تعلیم او ویلونا ممکن دی.

«خان محمد ایوب خان»



اعتبارات

(۲)

بوه روځ پر سړك روان وم چه زمايو داسی اشنا چه ملاقات ورسره صرف په داسی صورت کښې ممکن دی چه یا حاکم او حمکران وی او یا کم تر کم شاعر یا جرایم پېشه وی - دیوسړی سره په داسی حال کښی چه سترګی ئې سرې - خوله د ځګو ډکه - لیڅی غور ځوه او په سخته پوچ او فحش ژبه همکلام دی -

ماور ته وویل !

«خیر خودی !»

اشنا : تا ته خو معلومه ده چه دبوټ پالش بوه ښیښه په بازار کښې په اته افغانۍ خرڅیږی !

ماورته وویل : د ګواهۍ دپاره بل بې ایمانه ګوره خو اوس ته قصه وکړه !

اشنا : دازما ډرایور دی ما اته افغانۍ دبوټ پالش دپاره ورکړی وی اوس وائی ما ته دوې افغانۍ نوری را کړه چه ما ښیښه په لس افغانۍ رانیولې ده

ماورته وویل : خیر معامله ددو افغانیو ده مګر ستا پوزیشن ډېر بلند دی او داوضعیت - داسړك - داعا میانه اور کیك کلام ستا سره نه ښائی .

اشنا په قهر شو او وئې ویل : پوزیشن موزیشن په دنیا کښې دوم نوم دی فقط دپیسو چه سواله هغه نه انسانیت شته او نه حیثیت څه معنی لری .

ما خیال وکړ چه اشنا ګرم دی او دوې افغانۍ می دخپل جیب څخه وډرایور ته ورکړی -

اشنا پوه شوه چه «ولی بخیر گذشت»

اوماته ئی په خنداوویل: وروره!

اوس خو خیر خبره ددوو افغانیو وه آینده فکر کوه چه په دغه ډول حالاتو کښې په ډېر تاوان مبتلا نه شی.

ماورته وویل: خیر دی هر تاوان دیوې فایدې اوهره فایده دیوه تاوان سبب وی - زما که دوې افغانۍ تاوان شوې ستادپاره خوفایده شوله نو ځنی رخصت شوم او په زړه کښې مې له ځان سره وویل:

«ایادغه ډول ذهنیت نتیجه وی ددولت او که دولت نتیجه وی ددې ډول ذهنیت»

بالاخره ودې نتیجې ته ورسیدم چه قصور ددولت او سرمائې نه دی بلکه داډول ذهنیتونه لازمی او منطقی نتیجه وی دهغی عقیدې چه غرض او مقصد ته په هر تقدس قایل وی مګر ذریعه او سبیل ته ئې په هیڅ شرافت روادار نه وی.

خان محمد ایوب خان

اعتبارات

(۳)

وائي چه د مغليه خاندان د حکومت په دوران کښې يو قاضي چه نوم ئې ملا کټه اخوند و، او دخپل انصاف نوازۍ او عدالت پسندو روايا تو په سبب دهر خاص او عام زبان زد و،

يوه روځ ئې پوځوان چه دخپلې عمر خوړلی او پرملا کيزې مور واحد او يگانه زوی و، دقتل په سلسله کښې په قصاص محکوم کړ ـ مور ئې دانتها ئی مايوسۍ او بې چارگۍ په صورت کښې دلکړۍ په مدد افتان او خيزان دقاضي حضور ته ځان راورساوه او قاضي ته ئې د رحم درخواست وړاندی کړ قاضي په ډېر خشونت او پندارورته وويل :

مجله کابل ۵۰

زما په عدالت او طبيعت کښې دد غه قسم شقي القلبو گمراهانو دپاره د عفو او درگذر هيڅ گنجايش نشته .

سپين سرې په مزيد زاريو او تضرع لا شروع نه وه کړې چه قاضي پوليس ته امرور کړ، سايله ترلاس نيولې او زما د مخ څخه ئی و باسيء چه ناحقه مې هم دماغ خراپوی او هم مې وخت ضايع کوی ،

ما چه داقصه واوريد له نومی دايقين شو، چه

تر انصاف کو لو دانصاف سره دترحم آميزش بلند تر فطرت غواړی

زه داعتبارا تو دغه مختصره مجموعه منسوبوم وهغو کسانو ته چه دحقايقو او بصايرو لټولو پرځای پرهغو باندی دپرتو پردو، دومری دلداده او پرستارو ی چه فقط هغه حجابونه ئې حق گڼلی او دژوند اصول ئې ځنی قايم کړی وی

خان محمد ايوب خان

خوشحالی

ښاغلی مسعود گل «منگل»

آه څه وو ایم ، وژاړم که وخاوندم جهان وغواړم که تنهائي چیری ولاړشم-چه دسعادت تپوس وکړم.

هو! خوشحالۍ . . . خوشحالۍ . .

چیری ئې اې د خوشحالو او غمجنو همرازه .

زه د لته په تنهائی عالم کی ژوند کوم .

راشه راشه ته چیری ئی .

ته د کوم بوالهوسه انسانه سره ئی په تا څوك لوبی کوی . زه ولی تا نه شم پیدا کولای .

زه کرزم او په تاپسی زما آرزو گانی هم تالتوی

ته چیری ئی ، دچا سره او په کومه لته کی

راشه !

زه تالتوم اوتش دخپل ځان د پاره نه بلکه دډیرو دپاره ـ دهغو د پاره چه ستا ډیر قدر ور سره شته .

هغه څوك دی ؟

هغه په لوړو ماڼیو کی نه موندل کیږی هغه په رنگینو جامو کښی نه شی ځائیدلای .

هغه د عیشن او عشرت له دنیا څخه نا خبر دی او خلق ور ته « مظلوم » وائی .

راشه ـ راشه د یوه مظلوم د پاره .

تا غواړم او ډیر ژر اې خوشالۍ !!

د پښتو ټولنې تازه خپرونې

۱ : لوړ خیالو نه اوژور فکرونه ـ د کل یاچا الفت اثر یو جلد په (۸) افغانۍ

۲ : داورلمبې د ښاغلی خیبری اثر یوجلد په (۵) افغانۍ

۳ : پښتانه داقبال په نظر کښې د ښاغلی بختانی تدوین یوجلد په (۷) افغانۍ

٤ : منطق د ښاغلی الفت اثر یوجلد په (٦) افغانۍ

٥ : افغان قاموس د ښاغلی عبدالله افغانی نویس اثر یوجلد په (۳۲) افغانۍ

٦ : د پښتو نشرونه د محمد دین ژوا ك تدوین

دا کتابونه د پښتو ټولنې په پلور نځی کښې موجود دی .

کابل مجله

دا مجله د پښتو په خواږه ادب ادبی تنده ماتوی .

دا مجله د پښتنې دنیا د معرفۍ یواز ینۍ وسیله ده.

دا مجله د تیرو او او سنیو پښتنو پرژوند ښه رڼا اچوی.

تاسې کولای شئ چه دا تنده په کابل کښې په (٤٠) افغانۍ په دننه هیوادونو کښې په (٤٤) افغانۍ په هند کښې په (۱۲) کلدارې په نورو دباندنیو هیوادونو کښې په (۳) دالره ماته کړئ

د ښوونځیو وزده کونکو ته په نیمه بیه .

د نوی کال د اشتراك د پاره په کابل کښې همدغه بیه د پښتو ټولنې د محاسبې مدیریت ته او په ولایاتو کښې د همدې مؤسسې د جاری شمېر (په ۷۸۷۵) لمبر افغانستان بانك ته سپارل کېږی